# د اعلیحضرت امان الله خان اصلاحات او سقوط

عبدالباري جهاني

په افغانستان کی چی هر وخت د ترقی، تغییر او تنویر کلمات یادیږی نو داعلیحضرت امان الله خان نوم به سم ورسره ملگری وي. د افغانستان په تاریخ کی به هیڅ مشر په دغه اندازه له خپل اولس او د هغه له ترقۍ سره د هغه په اندازه ژوره، صمیمانه او صادقانه لېونۍ مینه نه وي ښودلې. د افغان اولس د نېکمرغه کولو، عصری کولو او پر مخ بېولو سره د امان الله خان مینه د یوه پاچا مینه نه، بلکه د یوه شاعر، هنرمند او نقاش مینه وه، چی زیاتره په احساس افاده کېدله. خو لکه څرنگه چی بیده اولسونه د خپلو هنرمندانو او شاعرانو د احساس په ژبه ډېر ناوخته پوهیږی، دغه راز د خپل دې وطن پالونکي پاچا په نېکو احساساتو او سپېڅلي مینی هم هغه وخت وپوهېدل او هغه وخت یې د ارمان او افسوس اوښکی پسی تویولې چی هغه د دوی او د خپل گران هیواد له تودې غېږی څخه، چی ده د جنون ترسرحده مینه ورسره درلوده، ډېر لیری تللی وو، او نور یې د بیرته را ستنېدلو امکان موجود نه و. هغه په ژوند د خپل اولس دپاره مړ سوی وو، او هغه ژبې چی د ده په یاد وگړېدلې، د ده د ارمانونو دښمنانو وار په وار غوڅې کړې.
اعلیحضرت امان الله خان، چی په نړۍ کی د وخت د تر ټولو ستر استعماری طاقت په مقابل کی د سر پورته کولو او د جنگ داعلانولو په افتخار خپل اولس په جوش او خروښ استقبال کړی او دغازي لقب یې ورکړی و، خپل هغه اولس صرف د ترقۍ، ازادۍ او پر مختگ سره د هغه د لېونۍ مینی په گناه د کافر او لاټي په نوم له ملکه وشاړه. خو د هغه پیل کړي اصلاحات ناکام نه، بلکه د ناپوهانو او داړه مارانو د اغتشاش له امله د لنډي مودې د پاره بند سول. او د دې اغتشاش سره گواکي د اماني نهضت کمبله ټوله سوه. خو افغان اولس د شلمی پېړۍ په وروستیو لسیزو کی د دوهم ځل داخلی جنگونو تر پیل کېدلو پوری ، د ترقۍ او پرمختگ پر لور ، کله بیده او کله ویښ گامونه پورته کړل.
افغانستان د برتانوي استعمار څخه د استقلال د گټلو په وخت کی داسی هیواد وو چی سړی یې د خپلو تقریبا ټولو گاونډیو هیوادونو څخه وروسته پاته بللای سی. سواد د نشت په اندازه وو، او خلکو به حتی خپل خصوصی او کورني لیکونه په مُلا لیکل او لوستل. او د ژوند د تقریبا ټولو معلوماتو او اطلاعاتو منبع یې ملایان او د جوماتونو انگړونه وه. راډیو وجود نه درلود او د یوه ښار څخه تر بل ښار پوری د سفر کولو دپاره کله شپې او کله هفتې په کار وې .مطبوعات د نشت په اندازه وه. د اعلیحضرت امان الله خان د پاچاهي په لومړیو شپو ورځو کي یوازي د امان افغان په نوم ورځپانه او په وروسته کي څو نوري محدودي دولتي او مستقلي ورځپاڼي خپریدلې. دا ورځپاڼي هم یوازي په پایتخت او لویو ښارونو کي، هغه هم یوازي محدودو باسوادو، خلکو لوستلې. خلکو، په عمومي صورت، د بازار په اوازو گوزاره کوله او چی څه یی اوریدل هغه یی منل .اعلیحضرت امان الله خان حتی د اطلاعاتو وزارت نه درلود. ځکه ده فکر کاوه چی د ده نیت څرگند دی او د اصلاحاتو په هدف او گټور توب یی ټول وگړي پوهیږي .خو خبره هغسي نه وه. د اصلاحاتو دښمنانو د هیواد خلکو ته د ده پیغام نه یوازي نه رساوه بلکه په غلط ډول یی ور رساوه. اعلیحضرت امان الله خان غوښتل چي د ۱۹۲۱، ۱۹۲۴ او ۱۹۲۸ کلونو د لویو جرگو غړي او وکیلان به د ده پیغامونه د خلکو تر غوږونو ورسوي خو هغوی زیاتره ده او د ده اصلاحاتو ته وفادار خلک نه وه او چی خپلو سیمو ته ستانه سول خلک یی د خپل پاچا پرضد وپارول.
لیون پولادا ص ۱۵۵

Ketabton.com

اصلاحات

ډیر کسان فکر کوي چی د اعلیحضرت امان الله خان اصلاحات له وخت څخه مخکي وه، ځکه نو خلکو او محافظه کارو عناصر د هغوی په مقابل کی عکس العمل وښود او بالاخره د ده د پاچهی د سقوط سبب سول. په داسي حال کی چی، په لومړي سر کي، د هغه د ځینو اصلاحاتو ډیر تود هرکلی وسو او د ټولني د پرمختگ او عمومی همکاری د زیاتولو لپاره ډیره گټور ثابت سول. د هغه د اصلاحاتو مخالفینو او هغو لیکوالانو او مورخینو چی د ده د مخالفو رژیمونو تر تاثیر لاندي یې لیکني وکړې، یوازي هغو اصلاحاتو ته گوته ونیوله چی د افغانستان محافظه کارو عناصرو او د ټولني عنعنوي او بیسوادو خلکو ته نا بلده او د منلو وړ نه وه. د مرحوم میرغلام محمد غبار په شمول، هغو منورینو چي د اعلیحضرت امان الله خان د اصلاحاتو له نهضت څخه یی باید په کلکه دفاع کړې وای هم د هغه او د هغه د اصلاحاتو په برخه کی یو ډول مبهم نظر ورکړ. ډیرو مورخینو او لیکوالانو د اصلاحاتو د ناکامی ډیر لوی علت د امان الله خان اشتباهات او ځینی تلواري او بې وخته حرکتونه بللي دي . په داسي حال کي چي د هغه ځینی ناکاره او نا اهله ملگري، ځیني نامرده اندیوالان او حتی ځیني خاین عالي رتبه حکومتي مقامات د اماني نهضت په سقوط کي د هغه تر اصلاحاتو لوی رول لري.
اعلیحضرت امان الله خان ځیني داسي اصلاحات اعلان کړل چي اصلاحي نهضت اصلا د هغوی د عملي کولو لپاره پیل سوی وو او که ده له ځان سره ښه او ریښتوني ملگري لرلای، ښې او پر وخت مشورې یی ورکړي وای او اصلاحات سم

ketabton.com - The Digital Library

عملي سوي واى ښايي نهضت له سره ناکام سوى نه واى. په اجتماعي برخه کي د انسانانو خرڅول کېدل او رانيول منع اعلان سول او د ټولني، په تيره بيا هزاره ګانو، له خوا يې تود هرکلى وسو. بيګار يې منع کړ او يوازي د سړکونو جوړولو لپاره، چي د ټولني هر فرد ته يې ګټه رسيدله، بيګار او وړيا کار حتمي وبلل سو. د لومړي ځل لپاره يې د ټولني د هري برخي لپاره منظم قوانين وضع کړل. د اداري فساد د له منځه وړلو په برخه کې اکثر اقدامات يې هم ګټور وه او هم يې تقريبا د ټولو خلکو له خوا هرکلى وسو. د مالياتو ټول سستم يې له سره تنظيم کړ او حکم يې وکړ چي ماليات بايد د جنس په توګه نه بلکه په نغدو پيسو واخيستل سي .اضافي ماليات يې، لکه د ملکي د سرغوړي، لغو او غيرقانوني اعلان کړل. د افغانستان لپاره لومړنى کلنى بودجه يې، چي تر دغه وخته پوري چا نه پيژندله، منظور کړه. د حکومتي باقياتو سستم يې، چي د يوه سړي او حتى د هغه د اولادونو ژوند يې تهديداوه، له منځه يووړ. مرکزي او ولايتى شوراګاني يې، چي ځيني يې انتخابي او ځيني يې انتصابي وې، منځته راوړې. له خارجي هيوادونو سره يې ډيپلوماټيک اړيکي ټينګ کړل او افغانستان يې تقريبا په ټولي نړى وپيژاند. د قبايلي خانانو، درباريانو، او د شاهي کورنى د ليري خپلوانو او سردارانو خاص امتيازات او تنخواګاني يې لغو کړې. د مخابراتو او ارتباطاتو پراخي پروژې يې تر کار لاندي ونيولې. نوي سړکونه يې جوړ کړل، زاړه سړکونه يې ترتيم کړل، د ټلفون او ټلګراف خدمات يې پراخ کړل، د پوستي سستم يې بهتر کړ او افغانستان د پوستي د بين المللى ټولني غړى سو، پلونه يې اباد کړل او د افغانستان د ملکي هواګرځني لومړنى پروګرام يې پيل کړ.

اعليحضرت امان الله خان، له خپلي لومړى ځوانى څخه، په دې پوهيدى چي د ده د هيواد د وروسته پاته والي يو لوى علت بيسوادي او له نړى څخه بيخبري ده. کله چي قدرت ته ورسيدى، له هغي لومړى ورځي يې د ټولني د تعليم او تربيې د سستم بهتر کولو ته ملا وتړله او د خپلي پاچهى تر پايه پوري يې د اصلاحاتو تر بلي هري برخي دغي خواته زياته توجه وکړه. ليون پولادا ليکي په دې کي هيڅ شک نسته چي د هغه په اجتماعي اصلاحاتو کي د تعليم او تربيې په برخه کي اصلاحات تر ټولو مهم وه. نه يوازي د ده له خپله نظره بلکه د ټولني د راتلونکي لپاره هم. د ده له نظره د تعليم او تربيې د اهميت اټکل له دې څخه کيدلاى سي چي د ده د پاچهى به وخت کي د تعليم او تربيې مډال تر ټولو ملکي او پوځي مډالونو مهم وو. د اوسني افغانستان د مشرانو ټول نسل په مستقيم او غير مستقيم ډول د امان الله خان د تعليم او تربيې د سستم محصول دى. که امان الله خان د تعليم او تربيې په برخه کى ابتکارونو ته توجه نه واى کړې او د ښووني او روزني د ودي او انکشاف جرأت يې نه وکړى ننني افغانستان به د عصري کيدلو په لاره کي تر نن ورځي ډير کلونه شاته پاته واى. يوشى چي نه په ډيرو پيسو تر لاسه کيدلاى او نه په زور د چا لاسته ورځي هغه تعليم يافته او روزل سوي بشري قوه ده. پولادا ص ۸۹

د افغانستان په تاريخ کي هيڅ پاچا او مشر د هيواد له ښووني او روزني سره، نه له ده نه مخکي او نه له ده څخه وروسته، دومره ليونى او رېښتوني مينه ښودلي ده.هغه په کال ۱۹۲۵ کي کندهار ته د خپل پنځه ديرش ورځني سفر په ترڅ کي پخپله ښونځيو ته ولاړ، د ښوونکو تعليمي سويه يې وکتله، له شاګردانو څخه يې پوښتني وکړې، د حاضرى کتابونه يې وکتل د دايمي غير حاضرانو په باره کى يې ، چي شمير يې ۱۸۹ تنو ته رسيدى، له حکومتي مامورينو څخه تحقيقات وکړل .شاګردان او د هغوى مشران يې ور وغوښتل او د شاګردانو مشران يې پنځه پنځه روپۍ جريمه کړل. هغوى ته يې د ښونځيو د تاسيسولو او عصري تعليم او تربيې د هدفونو او ګټو په باره کي مفصله وينا وکړه او دا يې هم ورته وويل چي که په راتلونکي کي د هغوى اولادونه ښونځيو ته حاضر نه سي نو دوى ته به سختى سزاوي ورکړي. حاکميت قانون ص ۴۴

اعليحضرت د مذهبي او ژبني تبعيض د له منځه وړلو په منظور حکم وکړ چي پښتانه، فارسي ژبي او هندوان دي، چي تر دغه وخته يې په جلا جلا ښونځيو کي درس وايه، ټول په يوه ښونځي او ګډو ټولګيو کي سبق وايى. هغه دغه راز حکم وکړ چي لومړنى زده کړي د ټولو افغانانو لپاره حتمي او جبري دي. هغه کتاب ص ۴۵

اعليحضرت امان الله خان کندهار ته د خپل سفر په ترڅ کي، تقريبا هره ورځ، له سل ګونو او حتى زرګونو خلکو سره ناستي درلودې. د جمعي د لمونځونو امامت يې پخپله کاوه او په ويناو کي يې د نورو ملى مسلو ترڅنګ، پرعصري ښووني او رزوني باندي، چي د هري ټولني د پرمختګ اساس دى، هر وخت ټينګار کاوه. هغه پخپله يوه وينا کي وويل چي ځيني ملايان او سپين ږيري، په پټو سترګو او پرته له دې چي زموږ د ښونځيو په پروګرام يې ځانونه خبر کړي وي، هغه چټي او بېځايه بولي. هغه پخپله وايي چي د جمعي په ورځ يې په خطبو او په ښار کي د ګرځيدلو په ترڅ کي له خلکو سره د ښونځيو د ګټو په باره کي خبري وکړې. هغو شاګردانو ته يې چي په ښونځي کي يې غير حاضري نه کوله نغدي پيسي په انعام کي ورکړې. ۱۳۰ تنو شاګردانو ته يې چي تازه ښونځي ته شامل سوي او د ده له حضور څخه تير سوي وه نغدي پيسي ورکړې او هغه شاګردان يې چي غير حاضري يې کوله جريمه کړل. هغه کتاب ص ص ۵۰-۵۱

اعليحضرت امان الله خان، د هيواد د سختو مالي ستونزو سره سره، د ښووني او روزني خواته ځکه ډيره زياته توجه واړوله چي په دې پوهيدى چي د هغه د پراخو اصلاحاتو لپاره پوهو او تعليم يافته کسانو ته ضرورت لري. هغه ښوونه او

ketabton.com - The Digital Library

روزنه جبري کړه او په عامو ځايونو کی يی اعلانونه وکړل چي ټول خلک مجبور دي چي خپل ماشومان ښونځی ته واستوي او حکومتي مامورينو ته يی خبرداری ورکړ چی که خپل ماشومان په ښونځي کي داخل نه کړي نو ښايی جريمه سي او هم ښايی له وظيفې څخه برطرف کړل سي. هغه دغه راز د منځنيو او لوړو زده کړو د شاګردانو د تشويقولو په منظور هغوی ته په مياشت کي يوه لږه اندازه پيسې ورکولې او تر يوه حده يی د هغوی د جامو غم خوړ. ګريګوريان ص ص ۲۴۰-۲۴۱

اعليحضرت امان الله خان، د ملايانو او حضرتانو د پروپاګندونو او تبليغاتو په خلاف، چي ويل يی امير د هغوی ماشومان بهر ته ليږی او هغوی په بهرنيو هيوادونو کي کافران کوي، بهر ته د ليږل کيدونکو شاګردانو ټول کړه وړه تر سختي څارني لاندي نيول. کله چي به شاګردان بهر ته ليږل کيدل هغوی مجبور وه دا ژمنه وکړي چي روژه به نيسی، لمونځونه به کوي او د مسلمانانو په ټولو اخترونو او مقدسو مراسمو کي به برخه اخلي. کله چي عيسوي شاګردان کليسا ته ځي او هلته د خپل انجيل په لوستلو لګيا سي نو افغاني شاګردان بايد د خپلي عقيدې د غښتلي کولو لپاره قرآن شريف ولولي.
شاګردانو ته ويل کيدل چي د خوراک او څښاک په وخت کي د قرآن شريف احکام په کلکه رعايت کړي. شاګردان د نڅا کولو، د غير اخلاقي نمايشونو د ننداره کولو او له ښځو سره د اړيکو د ساتلو څخه منع وه. که هر شاګرد له دغو مقرراتو څخه سرغړونه کړې وای هغه بيرته هيواد ته را غوښتل کيدی. د شاګردانو د کړو وړو د څارلو لپاره، له هري ورې ډلګی سره يو تن ليږل کيدی او هغه به، وخت په وخت، مقاماتو ته خپل رپوټ ورکاوه. ګريګوريان ص ص ۲۴۲-
۲۴۳

اعليحضرت امان الله خان په دې پوهيدی چي د امان افغان په نوم يوازينی جريده، چي د سراج الاخبار ځای يی نيولی وو، نه هر وخت د افغانستان ټولو ولاياتو ته ليږل کيدلای او نه د اطلاعاتو په ترلاسه کيدلو کي د خلکو تنده ماتولای سي. هغه د خپلي پاچهی په لومړيو شپو ورځو کي يوازي د آزادو مطبوعاتو تحريک پيل نه کړ بلکه يو مطبوعاتي انقلاب يی راووست. د مطبوعاتو په ساحه کي يی داسي اور ولګاوه او داسي رڼا يی خپره کړه چي تر نن ورځي پوري يې چا د بيرته خاموشولو توان نه دی پيدا کړی. د لومړي ځل لپاره، خلکو ته، د هيواد په تقريبا ټولو ولاياتو کي، پر خپل حکومت باندي د انتقاد کولو زمينه برابره سوه؛ خلکو ته د انتقاد کولو او نظر څرګندولو جرأت ورکړه سو او په انصاف سره ويلای سو چی که دغه منور پاچا نه وای ازاد مطبوعات به ، خدای خبر، چي کله او څرنګه پيل سوي وای. په کال ۱۹۲۰ کي په جلال اباد کي اتحادمشرقي په خپرونو پيل وکړ او په هماغه کال په هرات کي د اتفاق اسلام په نوم اخبار له چاپه راووت. د افغانستان په شمال کي د بيدار په نوم اخبار او په مزار شريف کي د اتحاد اسلام اخبار خپروني پيل کړې. په کال ۱۹۲۱ کي په بغلان کي اتحاد بغلان، په کال ۱۹۲۲ کي په قطغن کي اتحاد خان آباد، په کال ۱۹۲۱ کي په کندهار کي طلوع افغان، په کوهستان کي ستاره افغان په خپرونو پيل وکړ. په کال ۱۹۲۳ کي په کابل کي د حقيقت په نوم اخبار له چاپه راووت او په هماغه کال د انيس په نوم ورځپاڼي په پښتو ژبه خپروني پيل کړې. ګريګوريان ص ۲۴۵
اعليحضرت امان الله خان ملي يووالي ته، چي د ترقی او سمسورتيا بنسټ دی، ډير ښه متوجه وو او تل به يې په خپلو ويناو کي د ملي يووالي تبليغ کاوه. د افغانستان په تاريخ کي ښايی ډيرو لږو پاچاهانو د ملي وحدت له تبليغولو سر دومره څرګنده علاقه ښودلې وي. پاچا امان الله خان کندهار ته د خپل سفر په ترڅ کي د جمعې د ورځي په يوې خطبې کي وويل" هر څوک چي په افغانستان کي اوسيږي، له استثنی پرته، افغان بلل کيږی او د دې هيواد ټول اقوام مسلمانان دي. د هيچا لپاره دا وړ نه ده چي له اسلاميت او افغانيت څخه مخ واړوي او په خپل قوم ونازيږي. د خپل قوم ل امله ځان تر نورو ممتاز وبولي او که څوک قوميت تر اسلاميت لوړ بولي نو د هغه ايمان حتما کمزوری او عقيده يې سسته ده"...
له ښووني او روزني، اصلاحاتو، عدالت، ډيموکراسی او د ښځو له حقوقو سره د اعليحضرت امان الله خان مينه د هغې وينا څخه ښکاري چي اروپايی هيوادونو ته د سفر د پيل په وخت کي يی په کندهار کی له خلکو سره د خدای په امانی کولو په ترڅ کي کړې ده. هغه وويل :لومړی خو زه د خدای تعالی او د هغه له پيغمبر څخه راضي او مشکور يم. بيا نو په داسي حال کي چي اوښکي مي په سترګو کي دي، غواړم تاسي ته ووايم ټولو هغو شيانو ته چي تاسي اشاره وکړه هغه خو لومړی خدای تعالي او دوهم تاسي پخپله کړي دي. زه د خدای تعالی شکر اداکوم او له تاسي څخه مننه کوم او له خدای تعالي او تاسي څخه د نوري مرستي غوښتنه کوم .بهر ته زما د سفر کولو هدف تاسي ته د ګټي رسول دي. زه غواړم داسي نوي شيان ستاسي لپاره انتخاب کړم چي موږ يی اوس نه لرو... ده خلکو ته وويل چي له هيواد سره مينه ولری، له خپلي خاوري څخه دفاع وکړی او دا په ياد ولری چی تاسي ټول يو ملت ياست. ده وويل پاچا د امر کولو حق نه لري. دا حق چا له منځه وړی دی؟ ما له منځه وړی دی. ځکه چی خدای تعالی وايی چي موږ بايد له خلکو سره سلا مشوره وکړو. نو زما نصيحت ته غوږ ونيسی او هيڅ وخت د يوه ديکتاتور پاچا د لاندي ژوند مه کوی. خرافات پرستي مه کوی. د مثال په توګه ځينو بيخبرو ملايانو تاسي ته د مذهب ځنځيرونه اچولي دي. دوی تاسي ته د مذهب په باره کی غلط معلومات درکړي دي، او تاسي يی غولولي ياست. تاسي بايد هغه څه ومنی چی خدای تعالی او د هغه پيغمبر امر درته کړی دی. تشي د ملا خبري مه منی.

ketabton.com - The Digital Library

زه دغه راز درته وایم چي تاسي باید د خلکو ترمنځ توپیر ونه کړی. تاسي ټول یو هیواد او د یوه بل ورونه یاست. زه غواړم په دغه برخه کي ستاسي رایه واخلم. او ټولو خلکو سمدستي لاسونه پورته کړل. زه دغه راز درته وایم چی له خپلو میرمنو سره ښه سلوک وکړی. له هغوی سره بد مه کوی ځکه چی دوی هم خدای تعالی ته امید لري، بشر دی او حقوق لري. تر یوې ښځي زیاتي مه په نکاح کوی ځکه چي تاسي یی ساتلای نه سی. تاسي باید خپل ماشومان ښونځیو ته ولیږی. تاسي باید خپل ماشومان د زده کړو لپاره بهر ته ولیږی. خپله ټوله شته مني د خپلو ماشومانو په ښوونه او روزنه ولګوی. ما چي هر څه درته وویل هغه د خدای تعالی او د هغه د پیغمبر احکام دي .ستیوارټ ص ۳۲۰
کندهار ته د سفر په ترڅ کي د خلکو په منځ کي د هغه له یوې وینا څخه ښکاري چي حکومتي اداري ټولي په فساد کي ډوبي دي. هغه ته اداري فساد له ډیرو پخوانیو وختونو څخه په میراث پاته سوی وو او د ده لپاره ګرانه وه چي په یوازي سره یې د دې مهلک اجتماعي دښمن ریښي ایستلي وای. هغه خلکو ته په وینا کي وویل چي ما د خپل مظلوم او نیستمن رعیت د سر او مال څخه د ظالمانو او تیري کونکو د لاس لنډولو لپاره نظامنامې جوړي کړې. خو څوک په هغه عمل نه کوي او یا سم نه دي وربانديي پوهیدلي. حاکم د خلکو هستي د ځان بولي او وایی چي خلک باید رشوتونه ورکړي او میلمستیاوي ورته وکړي. ملا وایی خلک باید هغه ته خیراتونه ورکړي او څوک یې باید له حلواخوریو څخه را ونه ګرځوي. کاتب وایی له خلکو څخه پیسي اخیستل د هغه حق دی. قاضي فتوا ورکوي چي د خلکو د دعوو د فیصله کولو په وخت کي چي له هغوی څخه هر څه وغواړم هغه ماته حلال دي. حاکمیت قانون ص ۸۴
اعلیحضرت امان الله خان له یوې خوا د هیواد د عصري کولو او پر مختګ لپاره په هره برخه کي ژور اصلاحات پیل کړل او له بلي خوا، په یوازي سر، د خپلو ټولو مخالفو ملایانو، روحانیونو، خانانو، فاسدو او رشوت خورو مامورینو او داړه مارانو او قاتلانو په غیر ورغی. هغه فکر کاوه چي که یو زړه ور او وطن پالونکی مشر له جدیت څخه کار واخلي نو غلا، فساد او بي امنیتي ته خاتمه ورکولای سي. په داسي حال کي چي تر څو پوري د غلا او بي امنیتي علتونه له منځ ولاړ نه سي یوازي د داړه مارانو په نیولو او په سزا رسولو کار نه کیږي .اعلیحضرت امان الله خان د کندهار د سفر په خاطراتو کي لیکي چي د کندهار امنیت په دې اندازه خراب سوی وو چي که ما ګناه کارانو ته سزا ورکړې نه وای نو امنیت به نه وای راغلی. بالاخره مي د مفسدینو په سزا رسولو او وژلو بنا وکړه او څو ورځي مي د قصابانو په څیر قصابي وکړه. په زړه کي مي وویل چي زه کندهار ته د کار لپاره نه بلکه د قصابی لپاره راغلی یم. تر څو چي په څو ورځو کي مي کندهار له اشرارو څخه پاک کړ او ښار آرام سو او په ټول ښار کي نه لوی او نه کوچني غل لیده کیدی. اعلیحضرت امان الله خان ټول هغه ظالم خانان، چي دی یحیی خان د مثال په توګه یادوي، په سزا ورسول او ځیني یې اعدام او قتل کړل چي د خپلو ځانونو د ساتلو او دښمنانو د ځپلو لپاره یې غله او داړه ماران ساتلي وه .حاکمیت قانون ص ۲۲۴
د افغانستان په تاریخ کي به هیڅ مشر د خپلو خلکو سره دومره له نیژدې نه وي کښینستلی او دومره د زړه له کومي مینه به یې نه وي ورسره کړې. اعلیحضرت امان الله خان خپل سلطنت د هیواد د اکثریت مظلومانو او غریبانو باله اود کندهار خلکو ته د خپلي هغي وینا په ترڅ کي چي د پچي په اساس یې د عسکري خدمت د ښیګڼو په باره کي ورته کوله وویل" ټول په دې پوه سی چي زما سلطنت د خان او ملا، ملک او مخورینو سلطنت نه دی. بلکه زما حکومت د عاجزانو، غریبانو، کروندګرو او کسب کارانو د ژوند د ښیګڼو دپاره دی. او په هره وسیله چي کیږي د افغانستان د عام ملت د سمسورتیا او خوښیو لپاره به خدمت کوي .څرګنده خبره ده چي کله ټول ملت آرام او خوشاله وي نو خانان او د نفوذ خاوندان به هم ورسره خوښ وي. نن غرمه که څه هم چي څوک به نه وي پوهیدلي چي ما ولي ډوډی ونه خوړه خو علت یی دا دی چي ما ولیدل چي تاسي ټول په چمن او د باغ پر سرکونو باندي د جرګي په انتظار ناست واست. او ستاسی خانانو او مشرانو د سلامخانې په برنډه کي ستاسي په مخ کي پر چوکیو او میزونو باندی ډوډی خوړله. ما چي دا حال ولیدی نو په زړه کي مي وویل چي زما دي زهر سي! چي ستاسي په مخ کي ډوډئ خورم" حاکمیت قانون ص ۹۳
اعلیحضرت امان الله خان په کندهار کي د خپلو ویناوو په ترڅ کي څو ځله د خرقې شریفي بست ته، چي غلو او فراریانو به پناه پکښي اخیستله، اشاره وکړه او وې ویل چي د خرقې شریفي حریم د مسلمانانو د عبادت دپاره دی. هغه د قاتلانو او داړه مارانو، چي د خدای او بنده ګانو پر حقوقو یې تیری کړی دی، د پټیدلو ځای نه سي کیدلای. دغه راز یې په هغو روحانیونو ملنډې ووهلي چي ویل به یې له آسمان څخه د دښمن الوتکه په یوه پف را غورځوي، د خاینانو توپونه په چف بندوي او د ماشین ګنو ګولی په تف بندوي. ده وویل چی زموږ پیغمبر چي د هغه له رویه ټول کاینات پیدا سوي دي له دښمن سره د توري په زور جنګیدی او په جنګ کي یې مبارک غاښ شهید سو. نو دې روحانیونو دا قدرت له کومه کړ. دا خبري که څه هم چي د شریعت له مخي سمي وي خو په دې برخه کي د بیسوادو عوامو لپاره د ملا او پیر خبري، چي دوی له وړوکوالي عادت ورسره نیولی وو، ډیري مهمي او پرحق ښکاریدلي او د ده پر منطق یې غوږ نه سو نیولای .هغه کتاب ص ۸۹

ketabton.com - The Digital Library

## ستونزي او عکس العمل

اعليحضرت امان الله خان په داسي يوه وروسته پاته ټولنه کي اصلاحات پيل کړل چي په هره برخه کي يې کار ته ضرورت درلود. په افغانستان کي اميردوست محمد خان، امير شيرعلي خان، د اميرامان الله خان نيکه امير عبدالرحمن خان او د ده پلار اميرحبيب الله خان هر يوه په خپلو وختونو کي پوځي، اداري، مالي، صنعتي او کلتوري اصلاحات راوستلي وه. نه يوازي د جدی عکس العمل سره مخامخ سوي نه وه بلکه لا يې هرکلی هم سوی وو. خو د امان الله خان اصلاحاتو له هغوی سره توپير درلود. د هغه اصلاحاتو انقلابي بڼه درلوده او د ټولني هره برخه يې په نظرکي نيولې وه. د افغانستان په څير يوې وروسته پاته ټولنه کي دغه راز اصلاحاتو قوي مرکزي حکومت، غښتلي او وفادار پوځ، قوي مالي بنسټ او منابعو او د اصلاحاتو طرفدارو يوه يا څو ګوندونو، تبليغاتي او تنظيمي قوت، ته ضرورت درلود. د اعليحضرت امان الله خان سره په دې ټولو لازمو وسايلو کي تقريبا يوه هم نه وه. د ښووني او روزني په شمول، د هغه تقريبا ټول اصلاحات انقلابي وه. که يې د ځينو تود هرکلی وسو نو د ځينو سره يې له لومړی ورځي مخالفت څرګند سو. که امان الله خان خپله ټوله، او يا زياتره، توجه د ښووني او روزني او مطبوعاتو خواته اړولې وای او د دې ترڅنګ يی، د هيواد د مالي امکاناتو سره سم، د صنعتي او تجارتي اصلاحاتو ته مخه اړولې وای نو ښايي هم يی د افغانستان د پر مخ بيولو ارمان پوره سوی او هم ښايي د چنداني لوی عکس العمل سره مخامخ سوی نه وای. د ده نيکه اميرعبدالرحمن خان هم په هيواد کی د پيرانو او ملايانو له مخالفتونو سره مخامخ سو. هغه هم د ملايانو او پيرانو امتيازات يا لږ کړل او يا يی له منځه يوړل. حتی د کندهار په خرقه شريفه کي يی د کندهار تر ټولو لوی ديني عالم، ملا عبدالرحيم، په خپل لاس وواژه مګر چا ځکه عکس العمل ښکاره نه کړ چي يو خو يی قوي مرکزي حکومت درلود او بل يی ملايانو ته داسي پلمه په لاس نه وه ورکړې چي هغوی په جوماتونو او کليو کی د هغه پر ضد کار ورڅخه واخلي.

له اعليحضرت امان الله خان سره، د خپل پلار او نيکه په څير، غښتلی مرکزي حکومت او پوځي قوت نه وو. هغه په دغه حال کي هم له ملايانو سره، چي هر ګړی يی له ټولو عامو او بې خبرو خلکو سره تماس درلود او ټولو يې هري خبري ته غوږ ايښود، او حضرتانو سره، چي په سل هاوو زره مريدان يی درلودل، مخامخ سو .که اعليحضرت امان الله خان، چي په ټول هيواد کي يی د غازي په نوم شهرت او محبوبيت درلود، ملايانو ته په لوی لاس د خپل ځان پرضد د تبليغ لپاره پلمې نه وای ورکړي ښايي دونه ژر يی د ده قدرت ته صدمه نه وای رسولې. خو هغه د خپل هيواد د ديني عالمانو او ملايانو د خپه کولو ترڅنګ، چي د هر ډول مترقي اصلاحاتو سره يې مخالفت ښودی، خپل پوځ، چي پلار او نيکه يې په ډيرو خواريو روزلی او تنظيم کړی وو، او ده هم د اصلاحاتو په عملي کيدلو کي، ډير زيات ضرورت ورته درلود، په لوی لاس داسي کمزوری کړی وو، چي بالاخره يی د يوه عادي داړه مار سره د مقاومت کولو او پر شا تمبولو توان نه درلود.

د پوځي جبری خدمت موده يی له دوو کالو څخه دريو کالو ته اوږده کړه. زاړه پوځي قطعات يې، چي ښه روزنه او تجربه يې درلوده، رخصت کړل او ځای يي ځوانانو ته ورکړ. د زړو پوځي قطعاتو عسکرو په مياشت کي شل روپۍ تنخوا درلوده خو ځوانو قطعاتو ته يې په لومړي سر کي د مياشتي دوولس رپۍ وټاکلې او بالاخره يی هغه تنخوا هم په مياشت کي پنځو روپيو ته را کمه کړه. پولادا ص ۷۶ طبيعی خبره ده چي له عسکري خدمت سره د عسکرو او صاحب منصبانو علاقه کمه سوه او پوځ ورځ په ورځ کمزوری سو. ميرغلام محمد غبار، چي په هغه وخت کي ځلمی وو او هر څه يې په سترګو ليدلي دي، هم د پوځ، په لوی لاس، کمزوره کيدلو ته اشاره کوي او وايي چي له پوځ څخه هغه تجربه کار او تکړه کسان چي د استقلال په جنګ کي يی توره کړې وه يا له کاره ګوښه سوه او يا حتی بنديان سول او پر ځای باندي يې نايب سالار محمود سامي او هغه ته ورته کسان وټاکل سول. غبار ص۸۱۱ حتی لودويک آدمک خو لا په دې عقيده دی چي امان الله خان د خارجي يرغل خطر نه احساساوه او فکر يې کاوه چي د داخلي مخالفتونو او احتمالي ښورښونود ځپلو لپاره وړې پوځي قوې ته، چي د هوايی قوې ملاتړ وسره وي، اړتيا لري. ځکه يې نو د الوتکو د اخيستلو په نامه د عسکرو څخه يوه مياشت تنخواوي وګرځولې او هغه تجربه کار صاحب منصبان يې چي لا هم په پوځ کی وه يو په يو له پوځه وايستل. آدمک ص ۸۶

سپه سالار محمد نادر خان د اعليحضرت امان الله خان له دغو پوځي اصلاحاتو او له پوځ څخه د تجربه کارو صاحب منصبانو د ايستلو او ګوښه کيدلو له پروګرام سره ډير سخت مخالفت وکړ. خو محمود طرزي، چي د ترکيې ډير ټينګ طرفدارو او د هغه هيواد د ټولو پوځي اصلاحاتو ملاتړ يې کاوه، د اعليحضرت امان الله خان د نويو پوځي اصلاحاتو ملاتړ وکړ. زاړه او تجربه کار صاحب منصبان د نادر خان په طرفداري ودريدل او ملکي مامورينو زياتره د محمود طرزي ملاتړ وکړ. په دې توګه په کابينه کي لومړنی جدي درز را پيدا سو. پولادا ۱۱۶

د اعليحضرت امان الله خان له پاچهی څخه ايله يو کال تير سوی وو اعتمادالدوله سردار عبدالقدوس خان له کندهار څخه کابل ته د مجددی د کورنۍ دوو مشرانو شمس المشايخ فضل محمد مجددي او نورالمشايخ فضل عمر مجددي ته يو مفصل ليک واستاوه او په هغه کی يې د اعليحضرت امان الله خان د چټکو اصلاحاتو، مشروطه شاهي نظام او خارجه وزير

ketabton.com - The Digital Library

محمود طرزي څخه ژوره کرکه څرګنده کړې او د کندهار له علماوو څخه یې غوښتي وه چي د مشروطه نظام د ردولو او د ټولو مشروطه غوښتونکو د ریښو ایستلو او د قتلولو فتوا تر لاسه کړې. د کندهار ځلیرویشتو دیني عالمانو، اوو تنو قاضیانو او دریو سیدانو د سردار عبدالقدوس خان په غوښتنه یوه فتوا صادره کړه او په هغې کي یی مشروطه شاهي یو مردود نظام اعلان کړ خو د مشروطه غوښتونکو د قتلیدلو فتوا یې ورنه کړه. د کندهار عالمانو په هغه فتوا کي دغه راز ویلي وه چي قزلباش د قبلې خواته سجده کوي، د قرآن مجید تلاوت کوي او د شهادت کلمه وایی. ځکه نو هغوی ټول مسلمانان ګڼل کیږي، له هغوی سره نکاح روا ده او د سر او مال ساتنه یې باید وسي. حقیقت التورایخ ص ص ۳۸۷-۳۸۹
موږ ګورو چي ملایانو، روحانیونو او د زاړه فکر څښتنو عالي رتبه مامورینو د اعلیحضرت امان الله خان د قدرت د لومړیو شپو ورځو څخه د هغه د نظام او اصلاحاتو د مفکورې سره مخالفت پیل کړی وو .اعلیحضرت امان الله خان د تبلیغاتو لپاره تقریبا هیڅ وسایل په لاس کي نه لرل خو مخالفینو یې هره ورځ، د جوماتونو د ملایانو، امامانو، شیخانو او مریدانو له لارې، خپل د مخالفت آواز تر خلکو پورې، چي تقریبا ټول بیسواده وه، رسولای سوای. د هیواد د عصري کولو په نیت اعلان کړو او روانو کړو اصلاحاتو سره یې وړو او لویو مخالفتونو کرار کرار زور واخیست او، د وطن او ترقۍ د دښمنانو په لمسون، بالاخره د خوست هغه وسله وال پاڅون پیل سو چي څه کم یو کال یې دوام وکړ. په زرګونو سرونه پکښی ورغړیدل، په زرګونو کورونه تباه سول، ښارونه او کلي لوټ سول او هغه په سل هاووزره روپۍ چی باید د اصلاحاتو د پروګرام په عملي کیدلو لګیدلي وای د خوست او شاوخوا سیمو د ښورښونو په کرارولو ولګیدلې.
په خوست کي د ملا عبدالله او ملا عبدالرشید په مشرۍ ښورښ پیل سو. منګلو او زازیو سمدستي د ښورښیانو ملاتړ پیل کړ. د ښورښ او ناکراریو لمن ډیر ژرتر لوګر او غزني پوري ورسیده. په لوګر کي د برکي برک، برک راجان، پل علم ښارونه او کلي چور سول. حکومتي خزانې او جبه خانې د یاغیانو لاسته ورغلې .ښورښ هغه وخت سیاسی رنګ واخیست چي د امیر محمد یعقوب خان زوی عبدالکریم له هند څخه په پټه ځان خوست ته ورساوه ، له ښورښیانو سره یو ځای سو او ځان یې پاچا اعلان کړ.اعلیحضرت امان الله خان له سپه سالار محمد نادرخان څخه وغوښتل چي د جنوبي د ښورښ په ځپلو کي ل خپل نفوذ څخه کار واخلي. مګر څرنګه چي سپه سالار محمد نادرخان د جنوبي له خلکو سره ښه اړیکي درلودل او هغوی د استقلال په جنګ کي ښه همکاري ورسره کړې وه نو د جنوبي د ښورښ له ځپلو څخه یې معذرت وغوښت او اعلیحضرت امان الله خان هم هغه د دفاع له وزارت څخه برطرف او پاریس ته یې د سفیر په حیث ولیږ.ی. حقیقت التواریخ ص ۳۹۹
د اعلیحضرت امان الله خان تقریبا ټولو لایقو جنرالانو او لویو افسرانو د دې ښورښ په ځپلو کي برخه واخیستله. د غزني په جبهه کي د دفاع د وزیر مرستیال جنرال عبدالعزیر خان، داخله وزیر غلام محمد خان او جنرال محمد عمر خان جنګیدل. د لوګر په جبهه کي شاه ولي خان او پخوانی صدارعظم څلوراتیا کلن سردار عبدالقدوس خان او سپه سالار غلام نبي خان چرخي جنګیدل. په ګردیز کي د جنګ وزیر محمد ولي خان قومانده ورکوله او محمد صدیق خان د علی خیلو پلټني اداره کولې. د کابل والي علی احمد خان په جلال اباد کي د خوګیانیو ملاتړ ترلاسه کاوه. آدمک ص ۸۸
د جنوبي د ښورښ په ځپلو کي د دونه لویو مقاماتو او جنرالانو د برخی اخیستلو څخه ښکاري چي د هغه لمن دونه پراخه سوې وه چي د اعلیحضرت امان الله خان سلطنت یې د نسکوریدلو له خطر سره مخامخ کړی وو. دې ښورښ څه باندي نهه میاشتي دوام وکړ. ایله د کال ۱۹۲۵ د جنوري په میاشت کي، په بشپړه توګه، وځپل سو. د دې ښورښ د ځپلو په وخت کي د اعلیحضرت امان الله خان د حکومت او پوځ کمزوري ځکه څرګنده سوه چي هغه د خپل منظم پوځي قوت په زور د یاغیانو سره د مقابلې توان نه درلود او د مهمندو، شینوارو، وزیرو، اپریدیو او هزاره قومي ملیشو څخه یې کارواخیست او د یاغیانو په مقابل کي یې جهاد اعلان کړ .په دې جنګ کي اولس او حکومت ته ډیر درانه ځاني او مالي تلفات ورسیدل . تقریبا ۳۵۰۰ کورونه بمباري او وسوځول سول. ۱۵۷۵ تنه یاغیان مړه او ټپیان سول او څلور سوه ښځي او ماشومان د یخنی او لوږي څخه مړه سول. داسي ښکاري چي د حکومتي قواوو تلفات به هم تر دې کم نه وه. د دې ښورښ په ځپلو پنځه میلیونه پونډه ، چي د حکومت دوه کلن عایدات وه، ولګیدل. امیر مجبور سو چي د هیواد د عصري کولو ځیني پروګرامونه پریږدي او د خلکو په نزد یې اعتبار ته هم ډیره صدمه ورسیدله. ګریګوریان ۲۵۵
د کال ۱۹۲۵ د جنوري پر دیرشمه ملا عبدالله، چي په حکومتي تبلیغاتو کي یې ګوډ ملا باله، او د هغه ملګری ملا عبدالرشید ونیول سول. عبدالکریم بیرته هند ته وتښتیدی. انګلیسی مقاماتو هغه برما ته تبعید کړ او لږ وخت وروسته یې په رنګون کي ځان وواژه. اعلیحضرت امان الله خان د ملا عبدالله او ملا عبدالرشید په شمول ۵۳ تنه یاغیان اعدام کړل. په سل هاوو نور نیول سوي کسان یې بندیان او تبعید کړل. په کابل کي د دې لوي بري په ویاړ څو ورځي خوښیو اړ جشنونو دوام درلود.اعلیحضرت امان الله خان ښایی دې خبري ته نه وي متوجه سوی چي ویني به وینو نه پریولل کیږي او قبایل ښایی خپل وژل سوي خپلوان تر ډیره وخته پوري له یاده ونه باسي او هر وخت د کسات اخیستلو فکر ورسره وي .بله خبره لا دا چي امان الله خان د خوست د ښورښ په ځپلو کي د جرمني او برتانیې له هوایی قواوو څخه کار واخیست. دې کار هم د هغه په مقابل کي د اولس کرکه زیاته کړه او هم یې د ملایانو دا خبره ریشتیا کوله چي امیر په زړه کي له کفارو

ketabton.com - The Digital Library

سره جوړ دی او هغوی یې د ملاتړ لپاره جنګي الوتکي ورکړي دي. دا چي هغه د خپل داخلي ښورښ د ځبلو لپاره د خارجي الوتکو او پیلوټانو څخه کار واخیست او د ښورښیانو سره د مقابلې لپاره یی کافي منظمه قوه نه درلوده او د منګلو او زازیو سره د جګړې لپاره یې د مهمندو، اپریدیو او نورو قومونو د اولسي ملیشو څخه استفاده وکړه خلکو ته د هغه کمزوري څرګنده کړه او سړی ویلای سي چي مخالفین به یې د بل ځل لپاره نور هم زړه ورکړي وي.
د اعلیحضرت امان الله خان لپاره په کار وه چي د نیول سویو ښورښیانو د وژلو، تبعیدلو او بندي کولو پرځای، یا لږ ترلږه ترځنګ، یې د زیانمن سوي اولس پر سر لاس ور تیر کړی او خلک یې خوشاله کړي وای. حتی زیانمن سویو خلکو ته یې رسیدلي تاوانونه جبران کړي وای. په خپلو هغو اصلاحاتو کي یې چي د ده په مقابل کي د خوست د ښورښ علت، یا لږ ترلږه پلمه، بلل کیدلای سوای ژور تغیرات او تعدیلات رواستلي وای. د خپلو پوځي قواوو کمزوری او بې نظمۍ ته باید متوجه سوی وای او د خوست د ښورښ څخه وروسته یې خپله ټوله توجه د پوځ تقویه کولو او عصري کولو ته اړولې وای. خو له بده مرغه چي یا یې ښه سلاکاران نه درلودل او یا ښایی خپلو مخالفینو او ښورښیانو ته دونه په غوسه وو چي له نرمۍ څخه یې کار اخیستلای نه سو.
اعلیحضرت امان الله خان، د دې پر ځای چي خپله توجه د پوځ تقویه کولو ته واړوي او هغه کسان ونازوي چي د ده د حکومت بنسټ او اساس ګڼل کیدلای سو ډیر مهم پوځي کسان یې، چي هم یې د خوست د ښورښ په ځپلو کي لیاقت ښودلی او هم یې د استقلال په جنګ کي کفایت ښودلی وو یا له مرکز او یا وظیفې څخه لیری کړل .د سپه سلار محمدنادرخان او سپه سلار غلام نبي خان چرخي په څیر جنرالان یې په خارج کي سفیران کړل او د سور جرنیل محمدعمرخان ناصري په څیر لایق جنرال یې په بندیخانه دننه کړ. طبیعي خبره ده چي پر قوم، وطن او تر قی مین امان الله خان به دا ټول کارونه، یا اشتباهات، د هغوغلطو مشاورینو په سلا کړي وي چي له غوړه مالۍ پرته به یې بل هیڅ کمال نه درلود او له هري سلا څخه به یې مطلب د خپلو شخصي ګټو ساتل وه. له بده مرغه چي د قدرت څښتنان او زمامداران معمولا تر ترخو حقایقو او واقعیتونو د خوږو خبرو له اوریدلو سره زیاته علاقه لري. د نړۍ په تاریخ کي د هغو مشرانو او حکمرانانو شمیر زرګونو ته رسیږي چي د حقایقو پر اوریدلو یې غوږونه کاڼه کړي او د نااهلو سلاکارانو د غلطو مشورو له لاسه د نیستۍ کندې ته لویدلي دي.
ژورنالیسټ او لیکوال محی الدین انیس، چي د هغه وخت ټولي پیښي یې د سر په سترګو له نیژدې لیدلي دي وایی چي هر کله به د یوې مهمي پیښي په باره کي خبر او رپوټ د دربار دیوالونو ته نیژدې سو نو پټ لاسونه به را وغځیول او غوږونه به یې پټ کړل. مثلا د مشرقي ښورښ چي زور واخیست ایله رسمي مقامات خبر سول. او چي کله د سقاو زوی د کابل دروازې ته را ورسیدی نو د هغه د حملې د مخنیوي لپاره ترتیبات ونیول سول. د دې بیخبریو تر ټولو لوی عامل د دربار په دننه کي ناست کسان وه. او د ښورښ د دوام او د سلطنت لپاره د معکوسي نتیجې ښندلو علت هم په دربار کي دننه دغه اشخاص وه، چي نه یې غوښتل پاچا، لکه څرنګه چی دی هغسي، په پیښو خبر سي .بحران ونجات ص ۲۳

اداري فساد
اداري فساد د ټولنو له تاریخ سره تړلی دی. هیڅ ټولنه په هیڅ وخت کي له فساده خلاصه نه وه. فساد اصلا یوه اجتماعي ناروغي ده چي علت یې د انسانانو طبیعي حرص او له قدرت سره مینه ده. د فساد ناروغي په ځینو ټولنو کی د نطفې په حال کي وي او وجود یې چنداني محسوس نه وي خو په ځینو ټولنو کي دونه پراخه سي چي په یوه اجتماعي ستونزه بدله سي او ټولنه د نارغی سرحد ته ورسوي. خو که چیري دا ناروغي دونه پراخه سي چي پولیس له غلو او داړه مارانو، مشران له پولیسو، وزیران له مشرانو او پاچا له وزیرانو سره ملګری سي نو په هغه صورت کي نظام د سقوط او ړنګیدلو سرحد ته رسیږي او کله کله خو بشپړي ټولني سقوط ورسره کوي. د بشر په تاریخ کي په سل ګونو امپراطورۍ او نظامونه د اداري فساد له لاسه کمزوري سوي او له منځه تللي دي. افغانستان هم یوه وروسته پاته ټولنه ده. ډیرو فاسدو حکومتونو یو په بل پسې سقوط پکښي کړی او ډیر ځله د فاسدو حکومتونو د سقوط په نتیجه کي داخلي جنګونه پکښي پیل سوي او د سل هاوو زرو بیګناه انسانانوویني پکښی توی سوي دي.
اعلیحضرت امان الله خان د رشوت، غلا او خیانت سره سخته دښمني درلوده او رشوت خورو ته یې سختي سزاګاني ورکولې. خو له بده مرغه چي شاخوا یې داسي کسانو احاطه کړې وه چي د خپلو شخصي اغراضو په خاطر یې د هغه له پروګرامونو، قوانینو او فرمانونو سره بشپړ توافق ښودی. د هغه زړه یې په دغه توګه په لاس راوړی او د پاچهی په ټولو کلونو کي یې له خپلو خلکو څخه لیري ساتلی وو .د هغه بر شاوخوا باندي د دې غوړه مالو درباریانو شمیر ورځ په ورځ مخ پر زیاتیدلو وو او په پای کي پاچا له خپلو ریښتونو او هوښیارو دوستانو او له خپلو خلکو څخه په بشپړه توګه ګوښه کړ. مورخین د هغه د حکومت د سقوط یو لوی علت د هغه غوړه مال درباریان او پراخ اداري فساد بولي. دلته به بده نه وي چي د مورخ پروفیسر محمد علي، چي هر څه یې د سر په سترګو لیدلي دي، د کتاب یوه برخه را نقل کړو" ... د دغو اصلاحاتو، چي د پردې یا حجاب لیری کیدل هم پکښی شامل وه، یوه مستقیمه نتجه دا سوه چی فساد او رشوت خوري

ketabton.com - The Digital Library

ورسره زيات سول. د حکومت يو متوسط مامور، چي مياشتني تنخوا يي ايله پنځوسو روپيو ته، چي تقريبا ديرش شيلنګه کيدل، رسيدله، مجبور وو چي خپل ځان، ميرمني او اولادونو ته اروپايي جامي واخلي. څرنګه چي د حلالي تنخوا څخه يي دا شيان برابرولای نه سوای نو بيا مجبور وو چي هغه په ناروا وسايلو ترلاسه کړي. په حکومتي مامورينو کی رشوت، اختلاس او غلا عام سول او د دي نويو اصلاحاتو له طرح کيدلو سره د خلکو کړاو زيات سو. د دي نوي زمان او عصر د پيل کيدلو دپاره عجيب او غريب امرونه صادريدل. عادي کسبګر، نانوايان، اشپزان، سکاره والا، اوبن والا او خرکاران ټول مجبور وه چي اروپايي جامي واغوندي او چا چي سرغړونه کوله هغه ته سخته سزا ورکول کيدله. پوليسو ته امر سوی وو چي هغه کسان جريمه کړي چي اروپايي جامي يې نه وي اغوستي او له عمومي پارکونو او باغونو او ښار څخه يې پسي واخلي.
پوليسو به هر ځای ښځي او نارينه تعقيبول او جريمه کول به يې. يو ځل خو يوه سړي په يوه ورځ کي ديرش ځله جريمه ورکړې وه. ډير خلک له دغه امله د کابل څخه ووتل او ځينو خو بيخي وطن پريښود. د دي نويو اصلاحاتو په نتيجه کي ناوړه اداره پيل سوه او هغه د ښورښ د پيل کيدلو علت سو. په ټولو ملکي او پوځي څانګو کي فساد روان سو. اکثر مامورين بي تجربي او بي صلاحيته وه او خپلي چوکۍ يې په واسطو، رشوتونو او خپلويو لاسته راوړي وې. د لوړو مقاماتو زړونه يې په پيسو او سوغاتونو ترلاسه کړي وه او هغوی د خلکو پر شکايتونو باندي غوږونه کاڼه اچول او د بيت المال د پيسو پر چوريدلو باندي يې سترګي پټولي. حکومتي چوکۍ په پيسو اخيستل کيدلي او، پرته له دې چي د چا لياقت او اهليت دي په نظر کي ونيول سي، هر چا به چي ډيري پيسي تحويل کړې هغه به ښه چوکۍ ترلاسه کوله. چا به چي پيسي تحويل کړې او چوکۍ به يې واخيستله هغه نو اختيار درلود چي په هر ډول يې زړه غواړي خپلي پيسي له خلکو څخه بيرته ترلاسه کړي. هر ډول چوکۍ خرڅېدلي او هيڅوک د رشوت او سوغاتونو په اخيستلونه شرميدل او په دې کي د پاچا او حتی د ملکي تر ټولو عالي رتبه مامورين شامل وه. د دي ناوړه اداري په نتيجه کي ټول خلک خپه سول او د حکومت په مقابل کي يي د ښورښ کولو په مساعد فرصت پسي کتل. د هغوی شکايتونو او عريضو ځکه نتيجه نه ورکوله چي ټولي لوړي چوکۍ هغو فاسدو او بي صلاحيتو مامورينو نيولي وې چي د پاچا پر شاوخوا را ګرځيدلي وه، يوازي غوړه مالي يي زده وه ، د پاچا زړه يي خوشاله ساتلی وو او د هغه د خيالي مفکورو ستايني يي کولې... هغه مامورين چي پاچا ته يي صادقانه او رينښتوني مشوري ورکو لې، سره له هغه چي د اوږده او شرافتمندانه خدمت سابقه به يي درلوده، استعفی کولو ته مجبور سول او په دې توګه د ناوړي اداري لمن نوره هم پراخه سوه او ميدان بي ارزښتو او حريصو درباريانو ته خالي سو او نور نو قدرت د هغوی په لاس کي وو "محمد علي ص ۱۰ـ۷
مورخين د اعليحضرت امان الله خان يوه لويه اشتباه دا بولي چي د خپلي مور سرورسلطان پر خبرو او مشورو يې ډير غوږ نيوی. په داسي حال کي چي هغه تقريبا بيسواده او ساده ښځه وه او د هيواد ل سياست څخه بيخبره وه. د پاچا مور تر بل هر چا د خپلو نيژدې خپلوانو سر مينه درلوده او پاچا هم د هغې په سپارښتنه د حکومت ډيري لويي چوکۍ او د افغانستان ډير حساس ځايونه خپلو بارګزيو ماما خيلو ته وسپارل. کابل د والي محمود ياور او شاغاسي علي احمد به لاس کي وو. کندهار د وزير عبدالعزيز خان، محمد سرورخان نايب الحکومه او عبدالکريم نايب الحکومه او نيک محمد فرقه مشر په لاس کي وو، مزار شريف او هرات د محمد ابراهيم نايب الحکومه او عبدالرحمن فرقه مشر په لاس کي وو او دا ټول بارګزي او د پاچا د مور سراج الخواتين د کورنۍ غړي او خپلوان وه .جنبش مشروطيت ص ۱۶۳
عبدالرحمن لودين په کال ۱۳۰۴ هجري شمسي( ۱۹۲۵) کي د امان الله خان د حکومت پر فاسدو مامورينو باندي د انتقادونو له امله له سختو مخالفتونو سره مخامخ سو او په هغه کال يي مرحوم عبدالحي حبيبي ته ويلي وه چي د دولت دستګاه يو مردار ډنډ دی او هرڅوک چي ور داخل سي لړل کيږي. ځکه مي ځان د فساد له هغه ميدان څخه را وايستی . جنبش مشروطيت ص ۱۳۴
اعليحضرت امان الله خان د خپلي پاچهی په لومړيو کلونو کي د رشوت خوړلو او اداري فساد سره سخت مخالفت ښود او هرات او کندهار ته يي د خپلو سفرونو په ترڅ کي ځيني عالي رتبه مامورينو ته سزاوي ورکړې. خو اداري فساد په ټولنه کي ډيری ژوري ريښي ځغلولي وې او د يوه يا څو تنو په برطرفه کيدلو او په سزا رسيدلو يې چنداني چاره نه سوه کيدلای. هغه د هرات امنيه قومانداند د خيانت په جرم محاکمه کړ، په دوولس کاله بند يي محکوم کړ، د خلکو په مخ کي يي جامي ورڅخه وايستلي او تقريبا سل زره روپۍ يي جريمه کړ. دغه راز يي شاه غاسي محمد سرورخان، چي د اعليحضرت د مور پلندر کيدی، بندي کړ. پولادا ص ۱۰۹
اعليحضرت امان الله خان، کندهار ته د خپل پنځه ديرش ورځني سفر په ترڅ کي، د هغه ولايت ټول اداري کارونه پخپله تفتيش کړل. لايقو او صادقو مامورينو ته يي انعامونه ورکړل او رشوت خورو او نا اهلو مامورينو ته يي سزاوي ورکړې. د کندهار د مرافعي قاضي يي په کارونو کي د غفلت، خيانت او له غلو او مفسدينو سره د ملګرتوب په ګناه له قضا څخه موقوف کړ، هغه دولتي مځکه يي چي په غبن يي د ځان کړې وه ورڅخه واخيستله او له ځان سره يي کابل ته ورسره بوت .پخوانی قاضي ملا محمد عثمان خان يي به کارونو کي د غفلت له امله پنځه لس ورځي بندي کړ. د کدني قاضي يي

ketabton.com - The Digital Library

له کاره برطرف کړ. حاکمیت قانون ص ۱۵۳ نور یي نو ځینو د ټیټو رتبو مامورینو ته له یوې هفتې څخه نیولې تر دریو میاشتو پوري د بند سزا وټاکله .هغه کتاب ص ۱۵۸
په دې حساب نو د پروفیسر محمد علي دا خبره ډیره بیځایه نه ده چي وایی د امان الله خان د پاچهی په ټوله دوره کي چا ونه لیدل چي یو د لوړي رتبي خاوند څوک دي په سزا رسیدلی وي. په داسي حال کي چي دا حقیقت هر چاته څرګند وو چي ډیرو عالي رتبه مامورینو په پټه د بدنامو غلو او داړه مارانو سره لاس درلود او له هغوی سره په ونډه شریک وه . محمد علي ص ۱۰
مورخ میرغلام محمد غبار، چي د پغمان په زر کسیزه لویه جرګه کي یې برخه درلوده، د اداري فساد څخه شکایت کوي او هغه د امان الله خان د سلطنت د نسکوریدلو یو لوی علت بولي. هغه وایی چي اکثرو وزیرانو او والیانو رشوتونه اخیستل. خلکو د شکایت کولو لپاره مرجع نه درلوده. د لسو کالو په جریان کي هیڅ وزیر، والي او حاکم محاکمه نه سو او بازخواست بیخي له منځه ولاړ. غبار وایی چي ما په لویه جرګه کي ږغ کړل چي تر څو پوري وزیران په قانوني توګه ملي شورا ته جواب ونه وایی او یوازي شاه ته مسول وي ملي شورا خپل مفهوم له لاسه ورکوي. او غلام محی الدین خان ارتي، چي د کابل انتخابي استازی وو، او د جنګي مهماتو د اخیستلو لپاره یې حکومت ته درې سوه زره روپۍ اعانه ورکړې وه، په زوره ږغ کړل چي اعلیحضرته! تر څو پوري چي ستاسي په فساد مشهور وزیران محاکمه او غرغره نه سي په هیواد کي هیڅ اصلاحات امکان نه لري. خو د جرګي د استازو دغه راز چیغو هیڅ ځای ونه نیوی .غبار ص ۸۱۳
مرحوم عبدالحی حبیبي وایی زه په کال ۱۹۲۷ کي په کندهار کي د عبدالرحمن لودین په کور کي ناست وم او هغه د تاج محمد بلوچ سره د خبرو په ترڅ کي شکایت کاوه چي پاچا له خلکو څخه ګوښه سوی او یو دیکتاتور ورڅخه جوړ سوی دی . هغه وویل چي ما له دې رژیم سره، چي د یوې ډلي مغرضو او ناپوهو خلکو له لاسه به فنا کیږي، د حزبي ژمنو له امله همکاري وکړه. او خپلي خبري مي د پاچا او درباریانو تر غوږونو ورسولي. څرنګه چي چا مي پر خبرو غوږ ونه نیوی نو کابل مي هم پریښود او اوس د کنهار په یوه کوڅه کي په خپل پلرني کور کي ناست یم. مګر تاسي چي د شاه او درباریانو سره اړیکي لری زما له خوا ورته ووایاست
ګر این مکتب اس و این ملا کار طفلان خراب می بینم
ډیر ژر به داسي ورځ راسي چي نه به زه یم، نه به ته یي او نه به فخر رازي .جنبش مشروطیت ص ص ۱۶۸-۱۶۷
مورخ میرمحمد صدیق فرهنګ د اعلیحضرت امان الله خان په باره کي لیکي چي هغه په لومړي سر کي ډیر ساده ژوند درلود، ډیر زیات کار یې کاوه او د عیش او نوش څخه بیزاره وو، ځکه یې نو په خارج او داخل کي محبوبیت درلود. فرهنګ لیکي چي هغه د پاچهی په وروستیو کلونو کي ډیر زیات تغیر وکړ. د سات تیري او فیشن سره یې سخته علاقه پیدا کړه او خپل همکاران یې هم دغه راز ژوند ته تشویقول. د هغوی لپاره په عادي تنخوا د عیش او نوش ژوند کول غیر ممکن وو .کرار کرار یې رشوت خوړلو او فساد ته لاس واچاوه. ګواکي شاه پخپله په غیر مستقیمه توګه خپل همکاران فساد ته تشویق کړل. شاوخوا ته یې غوړه مال او نالایق خلک راغونډ سول او د هغو غوړه مالیو د ده د تشخیص پر قوه باندي بده اغیزه وکړه. لاره ورڅخه ورکه سوه او د اصلاحاتو په پروګرام کي یې له اصلي موضوعاتو څخه فرعي موضوعاتو توجه واوښتله .فرهنګ ص ۵۵۲ فرهنګ د اصلاحاتو د ناکامیدلو او اغتشاش د پیل کیدلو یو علت د پاچا په مزاج او طبیعت کي دغه منفي تغیر بولي.
اغتشاش
په افغانستان کي په کال ۱۹۲۸ کي یو لوی او عمومي بنورښ پیل سو چي د هغه په نتیجه کي د اعلیحضرت امان الله خان سلطنت سقوط وکړ. د دې بنورښ زیاتره پړه پخپله د اعلیحضرت امان الله خان پر غاړه اچوله کیږي. هغه د خوست د بنورښ ۵۳ تنه مشران او مهم کسان اعدام کړل او په سل هاوو تنه یې تبعید او یا د بندیخانو شومه کړل او کله چي عبدالهادي داوي ورته ویلي وه چي بهتره به دا وای چي دا کسان یو ځل محاکمه سوي او بیا په سزا رسیدلي وای ده په خندا جواب ورکړی وو چي زه خو د امیر عبدالرحمن خان لسمی هم یم. عطایی ص ۱۹۵
کله چي هغه ځان د عبدالرحمن خان لمسی باله نو په کار وه چي تر پایه یا ډیره وخته یې د خپل نیکه له تاکتیکونو څخه کار اخیستی وای او چي هر ډول پالیسي یې غوره کولای پر هغي باندي یا تر پایه یا تر ډیره وخته دریدلی وای. خو ده له یوې خوا د خوست د بنورښ مشران او ملایان تبعید کړل او بلې خواته یې د بنورښ څخه وروسته د پغمان په دوهمه لویه جرګه کي د خپلو اصلاحاتو ډیري زیاتي مادې بیرته تعدیل کړې. ده بنایی غوښتل چي ګوندي په دې توګه به ملایان او یا د منګلو او زازیو خلک خوشاله کړي. مګر هغوی یې خوشاله نه بلکه ډیر بیځایه زړه ور کړل. ګواکي د څو زرو ملکي کسانو، یاغیانو، عسکرو او ځوانانو وینې هسې بیځایه توی سوې او د حکومت دوه کلن عایدات اوبو یوړل. اعلیحضرت امان الله خان د دې پرځای، چي په راتلونکي کي د دغه راز نورو بد مرغو پیښو د مخنیوي لپاره د خزاني بیرته ډکولو، د پوځ تقویه کولو او د اداري بهترولو ته متوجه سي. خزانه یې په بیځایه لګښتونو نوره هم تشه کړه، د پوځ تقویه کولو ته یې تقریبا هیڅ توجه ونه کړه او د بنو او لایقو سلاکارانو په لیري کولو او بې کفایته او نا اهلو کسانو په مقررولو سره یې

ketabton.com - The Digital Library

اداره، په لوی لاس، د فساد پر لور روانه کړه.

محمود طرزي، د خوست له ښورښ څخه لږ وروسته، په کال ۱۹۲۵ کي وويل چي د امان الله خان سياسی قوت ډير سخت کمزوری کيږي. محمود طرزي دا احساس کړې وه چي د امان الله خان د عصري کولو د پروګرام لپاره لازم سياسي اساس نسته. ده وويل چي امان الله يوه ښايښته مانۍ جوړه کړه خو اساس نه لري. که يوه خښته ورڅخه ليري سي ټوله مانۍ نړيږي .پولادا ص ۱۵۴

سپه سالار محمد نادرخان چي، د خوست د ښورښ په ځپلو کي د برخي نه اخيستلو له امله يې، د دفاع د وزير په حيث خپله وظيفه له لاسه ورکړې وه د انګلستان د سفير فرانسيس همفريس کورته ورغی او هغه ته يې وويل چي د امان الله خان اصلاحات به ځکه ناکام سي چي هغه د خلکو د عنعناتو او کلتور سره مخالف دي .ټول خلک فکر کوي چي حکومتي اصلاحات د اسلام مخالف دي او ملايان ځکه له دغو اصلاحاتو سره سخته دښمني کوي. ستيوارټ ص ص ـ ۲۵۴-۲۵۳

سپه سالار محمد نادرخان د انګريزانو د سفير د خوشالولو لپاره هغه ته وويل چي، د برتانيې د امپراطورۍ د دوستی او ملګرتيا پرته، زما په هيواد کي هيڅ ډول پرمختګ ممکن نه دی. هغه کتاب ص ۲۵۵

اعليحضرت امان الله خان په داسي وخت کي د غلام نبي خان چرخي او سورجرنيل محمدعمرخان په څير غښتلو او جانبازو جنرالانو، سپه سالار محمد نادرخان او محمود طرزي په څير هوښيارو سلاکارانو او مشرانو او عبدالرحمن لودين او عبدالهادي داوي په څير پاک نفسو او مبارزو مامورينو او دوستانو څخه مخ واړاوه، او په دې توګه يې د خپل لړزان حکومت ستني نوري هم ولړزولې.

داسي ښکاري چي په افغانستان کي د ژور تحول او پراخو اصلاحاتو، له ستونزو او پيچومو، ډک کار ته اعليحضرت امان الله خان يوازي پاته وو. هغه چي د کار خلک وه هغه يې له صحنې وايستل او هغه چي په صحنه کی پاته وه يا نا مرده او خودغرض ملګري او يا پخپلو کي په جګړو لګيا اشخاص وه، چي شخصي اختلافاتو ته يې د هيواد تر ګټو زيات اهميت ورکاوه. سردار عبدالقدوس خان لومړی سړی وو چي د حضرتانو د کورنۍ په لمسون او سلا يې د کندهار له ديني علماوو او قاضيانو څخه د مشروطيت د نظام پر ضد فتوا ترلاسه کړه او په دربار کي يې د چټکو اصلاحاتو د طرفدارانو او محافظه کارانو ترمنځ درز واچاوه. سردار شيراحمد خان، چي خارجه وزير کفيل، وروسته د ملي شورا ريس او په پای کي د امان الله خان له خوا د صدراعظم په حيث پيشنهاد سو مګر درباريانو يې د مقرريدلو سره سخت مخالفت وکړ، د سردار عنايت الله خان سره ډير سخت مخالف وو او په مقابل کی والی علي احمد خان له سردار شير احمد سره دونه مخالف وو چی ويل هغه بايد وويشل سي او ډير ژر وويشتل سي .ستيوارټ ص ۳۰۲ پخپله سردار شيراحمد خان هم د شينوارو د ښورښ په ځپلو کی منفی رول ولوباوه، هم يې د سقاو له زوی سره همکاري وکړه او وروسته د هغه سلاکار وو او کله چي محمد نادرخان قدرت ته ورسيدی د هغه سلاکار او بيا په تهران کي سفير وو. ګواکي عمر يې ټول په دسيسو کي تير کړی وو. سپه سالار محمد نادرخان او د هغه ورونه د محمود طرزي، غلام نبي خان چرخي ، محمد ولي خان او محمود سامي سره دونه مخالف وه چي اروپا ته يې د اعليحضرت امان الله خان سره د کتلو په وخت کي افغانستان ته د ستنيدلو لپاره د دغو کسانو د برطرفه کولو غوښتنه وکړه .هغه کتاب ص ۳۲۹ په مقابل کي په دربار او کابينه کي ټول هغه غوړه مالان او فاسد مامورين، چي يوازي د خپلو جيبونو د ډکولو غم ورسره وو، د محمود طرزي په شمول، د ټولو باتجربه او کاري اشخاصو سره مخالفت کاوه او پاچا يې هر ګړی هغوی ته بدبين کاوه. د شينوارو د ښورښ د ځپلو په عملياتو کي د شيراحمد خان او والي علی احمد خان دسيسو او خيانتونو د اماني نهضت شيرازه ولړزوله. والي علي احمد هغه ملا ته چي د خوست په ښورښ کي يې ډير لوی لاس درلود تر نيول کيدلو مخکي اطلاع ورکړه او هغه په تيښته بريالی سو. همدغه ملا وروسته د شيراغا مجددي سره په ديره اسمعيل خان کي يو ځای سو او د اماني نهضت پر ضد پروپاګنډه کي يې برخه ورسره واخيستله .هغه کتاب ص ۳۳۱ محمد ولي خان، چي اعليحضرت امان الله خان ډير زيات باور وربان‌دي درلود، سفير، خارجه وزير، د دفاع وزير او اروپا ته د خپل سفر په وخت کي يې نايب السلطنته مقرر کړی وو، د سقاو د زوی د ښورښ په وخت کي له هغه سره همکاري وکړه. د سقاو زوی په يوه عام مجلس کي د هغه له همکاريو څخه مننه وکړه او هغه توپک يې مجلس ته وښود چي محمد ولي خان د ښورښ په وخت کي ورکړی وو. هغه کتاب ص ۵۲۹ جنرال محمود سامي چي اعليحضرت امان الله خان ډير نازولی وو او تر ډيرو زياتو کسان يې باور په درلود، کله چي د سقاو زوی قدرت ته ورسيدی، سمدستي يې د هغه د قواوو د روزني او رهنمايی وظيفه پر غاړه واخيستله. خپل ټول پوځي مهارت يې د سقاو د زوی د رژيم په اختيار کي ورکړ او په ټول اخلاص يې خدمت ورته کاوه . ستيوارټ ص ۵۵۱ اعليحضرت امان الله خان د شينوارو د ښورښ د کرارولو لپاره غلام صديق خان چرخي او والي علی احمد وليږل. علي احمد ويل چي غلام صديق چرخي، له خپل پاچا سره ناځواني وکړه او ياغيان يې نور هم ولمسول. کله چي دواړه له هغه ماموريت څخه ناکام را ستون سول نو د شينوارو او نورو قبايلو د ښورښيانو شرايط يې امان الله خان ته راوړل او په هغو کي د باچا د تقريبا ټولو اصلاحاتو د لغو کولو د غوښتني ترڅنګ دا غوښتنه هم شامله وه چي پاچا به خپله ملکه ثريا طلاقوي، د محمود طرزي ټوله کورنۍ به له وطنه باسي او د برتانيې له سفارت څخه پرته به ټول خارجي

ketabton.com - The Digital Library

سفارتونه بندوي .پولادا ص ص ۱۷۰-۱۷۱ د محمود طرزي، ثریا او د برتانيي د سفارت په برخه کي د شینوارو له ځرګندونو او غوښتنو څخه ښکاري چي باید په هغوی کي والي علی احمد لاس درلودلی وي. ځکه چي هغه هم د محمود طرزي له کورنی سره مخالف وو او هم یې په کابل کي د برتانيي شارژدافیر ته دونه چاپلوسي کړی وه چي هغه په خپلو یاداشتونو کي دسیسه کار بللی وو.

والي علی احمد د کال ۱۹۲۷ د مي د میاشتي پر څوارلسمه د برتانيي شارژدافیر باسیل ګولډ ته ویلي وه چي د افغانستان د لویو ولایاتو خلک او د پوځ ډیره زیاته برخه د امان الله خان له اصلاحاتو څخه ناراض دي. له ده سره د قبایلو خلک جوړ دي. دوی د امان الله خان په مقابل کي د یوې کودتا ترتیب نیولی دی .پلان ډیر پر مخ تللی دی خو بشپړ لا نه دی. له ده سره دا اندیښنه ده چي د کودتا په صورت کي به روسیه مداخله وکړي. که د کودتا په وخت کي برتانیه دونه مرسته وکړي چي روسیې ته د مداخلي اجازه ورنه کړي نو دی ضمانت کوي چي په کودتا کي به هیڅ ویني تویی نه سي. ګولډ به خپلو یاداشتونو کي لیکلي دي چي هیڅ وخت یې داسي دسیسه کار نه وو لیدلی چي دونه سپیني خبري یې کړي وي. دی وایی علي احمد ته یې وویل چي خپل پاچا ته وفادار پاته سي. په کابل کي د برتانيي سفیر همفریس، چي دا وخت په لندن کي وو، او له دغه مجلس څخه خبر سو نو وې ویل چي علي احمد خان ده ته هم دغه راز خبري کړي دي خو د هغه خبري هیڅ اهمیت نه لري او هغه یو لاپک دی. ستیوارټ ص ص ۳۱۵-۳۱۴

سپه سالار محمد نادرخان، چي باید له امان الله خان سره یې د هیواد په ابادولو کي د زړه له کومي مرسته کړې وای، له بده مرغه، خپله زیاتره توجه خپلو شخصي ګټو او په دربار کي له مخالفینو سره دښمنیو ته اړولي وه. تر ټولو بده لا دا وه چي د خپل هیواد د ستونزو او د اعلیحضرت امان الله خان د اشتباهاتو په باره کي یې هر وخت په کابل کي د برتانيي له سفیر فرانسیس همفریس سره د زړه خواله کوله. هغه د خوست د ښورښ په وخت کي همفریس ته ویلي وه چي د افغانستان استقلال او نیکمرغي د برتانيي له مرستو او دوستی پرته امکان نه لري. هغه کتاب ص ۲۵۳ نادرخان له دي ملاقات څخه څه کم دوه کاله وروسته په روسیه کي د برتانيي له سفیر سر ریچارډ هوګسن سره وکتل او هغه ته یې وویل چي په کابل کي د ده وجود لازم دی او دی به خپل کوښښ وکړي چي له برتانيي سره ښه تفاهم ترلاسه کړي. ځکه چي د ده د هیواد استقلال یوازي د برتانيي سره د تفاهم له لاري تر لاسه کیدلای سي. تر ټولو بدمرغه او شرمونکي خبره خو لا دا ده چي نادرخان په هغه مجلس کي د برتانيي سفیر ته پیشنهاد کړی وو چي د کونړ سیند باید د افغانستان او برتانوي هند ترمنځ د پولي په حیث ومنل سي. یعني افغانستان برتانوي هند ته په زرهاوو کیلومیتره مربع نوره مځکه هم پریږدي .هغه کتاب ص ۳۰۵

تقریبا په همدغه شپو ورځو کي د نادرخان ورور محمد هاشم خان په ماسکو کي د برتانيي سفیر هوګسن ته ویلي وه چي په افغانستان کي په ډیره نیژدې راتلونکي کي انقلاب کیږي. امیر نه تصمیم نیولای سي او نه ټاکلي پالیسي لري؛ د روسیي تر نفوذ لاندي دی او د خپل هیواد سره د خیانت کولو لاره یې انتخاب کړې ده .هغه کتاب ص ۳۰۷

په داسي حال کي چي په افغانستان کي عالي رتبه مقاماتو، جنرالانو، سفیرانو او وزیرانو، چي د اعلیحضرت امان الله خان د دولت د ستنو حیثیت یې درلود، د خپلو شخصي ګټو لپاره د انګریزانو سره تماسونه ټینګ کړي وه، او لا موږ خبر نه یو چي انګریزانو به په ټیټ رتبه مامورینو او ملایانو کي څومره نفوذ کړی وو، د حکومت ځینو مامورینو او ملایانو د شوروي اتحاد د استخباراتو له اداري( ګي، پي،او) سره تماسونه ټینګ کړي او نغدي پیسي یې ورڅخه اخیستلي .شوروي اتحاد په کال ۱۹۲۵ کي په افغانستان کي یوه پراخه جاسوسي شبکه جوړه کړه. په دې شبکه کي، پر عادي کسانو او مامورینو برسیره، د کابل مستوفي او د پولیسو ریس هم شامل وه. د پولیسو ریس د میاشتي شپږ سوه روپې تر لاسه کولي او ټول هغه کسان یې بندیانول چي د ګي پي او مامور د انګریزانو د طرفدارانو یا جاسوسانو به نوم ورپیژندل. په دې توګه ډیر کسان په بندیخانو کي واچول سول. خاطرات آقابکوف ص ۸۱-۸۲

په افغانستان کي د شوروي اتحاد د استخباراتو د اداري ګي پي او استازي اقابکوف، چي په کال ۱۹۳۰ کي فرانسي ته وتښتیدی او هلته یې خپل خاطرات چاپ کړل، په کال ۱۹۲۵ کي د شوروي د سفیر په امر له شیخ الاسلام، چي نوم یې نه یادوي، تماس ټینګ کړ. البته شیخ دونه زوړ او کمزوری وو چي زامنو تر اوږو نیولی مجلس ته راوستلی وو. شیخ له آقابکوف سره ژمنه وکړه چي ازاد قبایل به ولمسوي او هلته به یو پارتیزاني جنګ پیل کړي او خپلو دوستانو ته به ووایي چي د انګلیسانو د اورګاډو پټلۍ، پلونه، ودانۍ او نور تاسیسات تخریب کړي. خو د دې عملیاتو لپاره سل زره روبلونو، پنځه زره توپکونو او پنځه سوه زره مرمیو ته اړتیا لري. په ماسکو کي د ګي پي او مرکز د شیخ غوښتني ومنلي خو د وسلو له لیږلو څخه یې، د ډیپلوماتیکو جنجالونو د پورته کیدلو له ویري معذرت وغوښت.
هغه کتاب ص ۸۳-۸۵

ځرنګه چي شیخ الاسلام ډیر کمزوری وو او د روژې د نیولو له امله وفات سو نو آقابکف د هغه له زامنو سره مذاکراتو ته دوام ورکړ. هغوی ته یې وظیفه ورکړه چي د جلال اباد او غزني تر منځ سیمه دي څاري او د حکومت د یوه مامور، هندي اصله، مولوی منصور تر نظارت لاندي دي کار کوي. هغه کتاب ص ۸۵

ketabton.com - The Digital Library

د شیخ بل زوی، چي په کابل کي يې ژوند کاوه، اقابکف ته پيشنهاد وکړ چي د دوو زرو روپيو په بدل کي به د افغانستان د خارجه وزارت شيفر شوروي اتحاد ته تسليم کړي. خو ماسکو خپل مامور ته ويلي وه چي هغوی کلونه مخکي د افغانستان د خارجه وزارت شيفر تر لاسه کړی دی .هغه کتاب ص ۸۶
موږ ته معلومات نسته چي شوروي اتحاد به، کلونه مخکي، د خارجه وزارت شيفر د چا په وسيله تر لاسه کړی وي. خو داسي ښکاري چي د هغوی د جاسوسي شبکه له آقابکف څخه ډير مخکي په کابل او ښايی نورو سيمو کي فعاله وه. دغه راز څرنګه چي د انګليسانو او نورو لويديځو قوتونو جاسوسان له خپلو ادارو څخه نه دي تښتيدلي او خپل خاطرات يې نه دي چاپ ته نه دي سپارلي نو موږ نه پو هيږو چي هغوی به په کابل او د افغاانستان په نورو سيمو کي له چا سره پټ تماسونه درلودل. خو د آقابکف له خبرو څخه څرګنديږي چي په کابل او نورو سيمو کي د انګليسانو شبکه له ده نه مخکي فعاله وه ځکه خو دی د پوليسو ريس ته، وخت په وخت، د هغو کسانو نومونه ورکوي چي د انګليسانو د حکومت لپاره کار کوي.
د هيواد بانفوذو کسانو او د اعليحضرت امان الله خان نيژدې همکارانو، چي هغه د ځينو په دوستی زړه تړلی وو، د هغه د اصلاحاتو د پروګرامونو د ناکامولو او د هغه د پرزولو لپاره په داخل او خارج کي دسيسې کولې. امان الله خان او د هغه اصلاحاتو ته وفادار او کاري خلک د دربار د دسيسو قرباني سوي او له صحنې ليري سوي وه. حضرتانو او ملايانو، د اصلاحاتو د اعلانيدلو له لومړۍ ورځي، له هغه سره خپله دښمني اعلان کړې او په هر جومات او ټولنه کی يې، په پټه او ښکاره، د هغه پر ضد تبليغات کول او په هره ګوښه کي يې بيسواده وګړي او قبايل ورته پارول. په دربار او د حکومت په مهمو ادارو کي غوړه مالانو او فاسدو رشوت خورو مامورينو ځای نيولی وو، چي هره شيبه يې هغه ته د خيريت رپوټ ورکاوه. امان الله خان خپلو ملګرو ته له خپلو عينکو څخه کتل او په هر چا کي يې د وطن پالني جذبه لټوله. له بده مرغه چي هغه جذبه له هر چا سره نه وه او دی ټولو ستونزو ته يوازي پاته وو او يا يې ځان په لوی لاس يوازي کړی وو.
په دغو شرايطو کي بهر ته د امان الله خان څه باندي شپږ مياشتنی سفر ښايی د هغه د قدرت د کلونو په سترو اشتباهاتو کی وشميرل سي. د هغه ټولو داخلي دښمنانو، په تيره بيا د حضرتانو کورنۍ، د هغه د پرزولو لپاره په ټولو پښتني سيمو کي تبليغات پيل کړي وه او نادرخان او هاشم خان د هغه د سلطنت او قدرت د پای ته رسيدلو او په وطن کي د انقلاب د جوړيدلو پيش بينۍ کړي وي. بهر ته د امان الله خان د سفر په باب بشپړ تفصيل د دې مضمون له حوصلې څخه وتلی کار دی. خو دونه ويلای سو چي دا سفر هم افغانستان ته په مالي لحاظ ګران پريووت او هم يې د امان الله خان د دښمنانو تبليغاتو او پروپاګنډونو ته ښه مواد برابر کړل. له هند څخه نيولې تر مصر، ايټاليې، برتانيې، جرمني، فرانسې، شوروي اتحاد، ترکيې او ايران پوري په تولو هيوادونو کي د افغانستان د ټولواک ډير تود هرکلی وسو او امان الله خان خپل هيواد په نړۍ وپيژاند .امان الله خان اروپايی هيوادونه په خپلو سترګو وليدل او په زړه کي يې په خپل هيواد کي د اصلاحاتو راوستلو اوربل سو. په جرمني، فرانسې، برتانيې او شوروي اتحاد کي يې د مرستو وعدې ترلاسه کړي او له ځان سره يې ژمنه وکړه چي هيواد ته له ستنيدلو سره به د اصلاحاتو امن پراخوي او اقداماتو ته به زور ورکوي.
خو ده ايله د اروپا سفر نيمايی ته رسولی وو چي د هغه د ښايستې ملکې د لوڅ مخ او لوڅو مړوندونو عکسونه تر قبايلي سيمو پوري ورسيدل. حتی ويل کيږي چي په ځينو ځايونو کي د هغه د اصلاحاتو دښمنانو د ملکې د سر برخه د لوڅو ښځو په عکسونو پوري نښلولې او چاپ کړې وه او د پروپاګنډ لپاره يې کار ورڅخه اخيست.
امان الله خان لا په برتانيه کی وو چي په قبايلي سيمو کي يې د ستونزو په باره کي خپاره سوي رپوټونو ولوستل. هر چا فکر کاوه چي هغه به خپل د اروپا سفر لنډ کړي او هيواد ته به ستون سي مګر هغه په پوره زړه خپل سفر ته دوام ورکړ او د شوروي اتحاد، ترکيې او ايران له لاري وطن ته ستون سو. د برتانيې د واکمنانو د خوښي په خلاف يې شوروي اتحاد ته سفر وکړ. د هغه هيواد له ډيرو مشرانو سره يې وکتل، ګواکي دا يې وښودله چي افغانستان يو مستقل هيواد دی او چي د پاچا يې هر ځای ته زړه وغواړي تللای سي. هغه په ترکيه کي د مصطفی کمال اتا ترک سره وکتل، او دا چي وطن ته د بيرته ستنيدلو سره سم يې خپلو اصلاحاتو ته زور ورکړ نو، ډير احتمال لري چي په هغه هيواد کي به د راغلو اصلاحاتو ډيره ژوره اغيزه وربandي سوې وي. اعليحضرت امان الله خان د کال ۱۹۲۸ د جون پر اوه ويشتمه کندهار ته ورسيدی او کندهار ته د رسيدلو سره سم احساساتي وينا څخه يې ښکاري چي په هيواد کي د ژورو تغيراتو راوستلو لپاره يې ډير څه په زړه کي درلودل.
“زه اروپا ته د سات تيري او ماشينونو د ليدلو لپاره نه وم تللی. بلکه غوښتل مي چي د ريښتوني ترقۍ لاري وپلټم. حتي په هغو ميلمستياوو او ميلو کي چي زما په افتخار به کيدلې ما د لويديځو هيوادونو له لويو مشرانو سره د ترقۍ د لارو چارو به باره کي خبري کولې. ما چي څه زده کړي دي هغه به ډير ژر ستاسی مخي ته کښيږدم. دا نو د ملت په قضاوت اړه لري چي زما هدف څه وو .زما هدف د هيواد د ژوند بهتر کول وه او که د امان الله او ملکې ثريا شخصي غوښتني او ګټي وې. که له دغه سفر څخه زما هدف شخصي وو نو ملت حق لري چي زما پيشنهادونه رد کړي. مګر څرنګه چي خبره دا سي نه ده نو زما له کندهار څخه هيله دا ده چي تر هر چا دمخه زما پيشنهادونه عملي کړي. کندهار زما د پاچهۍ تر ټولو

ketabton.com - The Digital Library

ځایونو ماته ګران دی. یو پلار له هغه زوی سره ډیره مینه لري چې د هغه خبره تر نورو ډیره مني".
امان الله خان وروسته په خپل هیواد کي د ټلګراف څخه شکایت وکړ او هغه یې د لویدیځي نړۍ په مقایسه د نشت په حساب وباله.
"اوس نو خپلو سړکونو ته وګورۍ. ستاسي سړکونه څونه خراب دي. دا ولي؟ علت یې دادی چې زموږ خلک نازک او نازولي دي. کله وایی ډیره سخته ګرمي ده، کله وایی ډیر ساړه دي، کله وایی باران دي او کله نوري پلمې کوي.
تاسي د اروپا تر ښځو ډیر نازک یاست؟ هغوی په کارخانو او فابریکو کي سره اور ته ولاړي وي نه له ګرمۍ، نه له یخنۍ او نه له سخت کار څخه شکایت کوي.دا د شرم خبره نه ده چې د اروپا ښځي د افغانستان تر نارینه وو ډیر کار وکړي؟ ما په خپلو سترګو ولیدل چې د اروپا ښځي له نارینه وو سره اوږه پر اوږه کار کوي او په تجارتي، اجتماعي، سیاسی کارونو او دفترونو، کارخانو او سیاسی کړیو کي به هغوی وګورۍ چې له میړونو سره مساوي کارونه کوي .خو د افغانستان ښځي یوازي په دې پوهیږي چې څرنګه په کورونو کی بیکاره کښیني او بل هیڅ نه کوي. ولي به دغه راز یو هیواد وروسته پاته نه وي. په داسي حال کي چې نور هیوادونو چې ښځي یې له نارینه وو سره اوږه پراوږه کار کوي سمسور دي.
افغانستان د روسیې او اینګلینډ په شان دوو لویو قدرتونو په منځ کي پروت دی او یو هم نه غواړي چې دا هیواد پرمختګ وکړي. او دا خبره ډیره طبیعي ده. خکه چې تاسي به هم له خپل ګاونډي هیواد سره دونه مرسته ونه کړی چې هغه تر تاسي قوي سي. ولي به روسیه او یا اینګلینډ ستاسي سره مرسته کوي او تاسي ولي باید دا انتظار ولری؟ تاسي ښایی وواياست چې تاسي بیسې نه لری. مګر نه روسیه او نه اینګلینډ تاسي ته پیسې درکوي.
نو تاسي به څه کوی؟ کوښښ وکړی چې پیسې پخپله پیدا کړی. تاسي په دې هیواد کي هر ډول کانونه لری. کار وکړی او له هغو څخه ګټه واخلی. شرکتونه جوړ کړی او کارخانې او فابریکې جوړي کړی. یو څه له بازو او یو څه له همت څخه کار واخلی. تر څو چې تاسي پخپله له خپلو ځانونو سره مرسته ونه کړی له نورو سره سیالي نه سي کولای او خپلي ګټی نه سي ساتلای. نو فعال او زړه ور سی.
تاسي که بیکاره کښینۍ خپل هدف ته نه سی رسیدلای. امان الله ستاسي لپاره ټول کارونه نه سي کولای. هغه تاسي ته مشوره درکوي. پر تاسي پوښتنه کوي او تاسي ټیله کوي، مګر تردې اضافه هغه نور هیڅ نه سي کولای. که تاسي له درنو خوبونو څخه ویښ نه سی نو په دې باور ولری چی امان الله به د پرمخ تللي او سمسور افغانستان ارمانونه ګورته ورسره یوسي" ستیوارټ ص ص ۳۷۰-۳۶۹

له سفر څخه تر ستنیدلو وروسته اصلاحات او سقوط

اعلیحضرت امان الله خان بهر ته د خپل اوږده، څه باندي شپږ میاشتني، سفر په ترڅ کي د هیوادونو له مشرانو، جمهوروریسانو او پاچاهانو سره وکتل او په هر هیواد کي یې دونه تود او شانداره هرکلی وسو چې ښایی د ده او ورسره ملګرو تر انتظار به یې هم لوړ وو. اروپا ته د هغه د دې اوږده سفر په جریان کي ورځپاڼو، وخت به وخت او هره ورځ، د هغه د سفر د جریان په باب مضامین او عکسونه خپرول. د پایتختونو په لارو کوڅو کي کله کله په زرهاوو ښځو او نارینه وو د هغه هرکلی کاوه . طبیعي خبره ده چې دې هرکلیو به د هغه پر روحیاتو اغیزه کړې وي. هغه به یې مغرور او خوخواه کړی وي او داسي فکر به یې کړی وي چې د یوه ستر او ترقي غوښتونکي پاچا په حیث په خپل هیواد کی د هرډول تغیر را واستلو توان ورسره دی. د اروپایی هیوادونو پر مخ تللي کلتور او صنعت د هغه په زړه کي د افغانستان د پر مخ بیولو تنده نوره هم زیاته کړه او ښایی د همدغه اوږده مسافرت په جریان کي یې په خپل هیواد کي د ژورو، چټکو او آني تغیراتو راوستلو فیصله کړې وي.
اعلیحضرت امان الله خان خلکو ته، په هرات او فراه کي هم، د اصلاحاتو او ښځو د حقوقو او اجتماعي دریځ په باب ویناوي کړي وې او چې کله کابل ته ورسیدی نو هم یې د کندهار وینا ته ورته خبري وکړې. د اګسټ پر نهه ویشتمه یې زر کسیزه لویه جرګه را وبلله، څو د ملت سره د خپلو راتلونکو پروګرامونو په باب د زړه خواله وکړي او هغوی ته وښیي چې د اروپا له سفر څخه یې څه تر لاسه کړي دي. د ډیلي میل خبریال رانلډ وایلډ، چې د دغي لویی جرګې په وخت کي حاضر وو، د افغانستان د لیري پرتو سیمو او کلیو څخه راغلیو وکیلانو باندي د اروپایی لباس او خولیو د تحمیلیدلو او د هغوی د وارخطایی او خندونکي حالت په باب پرله پسې رپوټونه خپاره کړل. د جرګې په جریان کي سفیر فرانسیس همفریس ورته ویلي وه چي هغه باید ډیر ژر د کابل څخه ووزي. په کابل کي ښایی ډیر ژر حالات خراب سي او که ده ته څه ورپیښه سي نو سفارت یې مسولیت پر غاړه نه سي اخیستلای .وایلډ ص ۱۸۴
اعلیحضرت امان الله خان د پغمان په دریمه لویه جرګه کي، چې ۱۰۰۱ تنو استازو برخه پکښی درلوده، د صنعت او تعلیم او تربیې پر موضوعاتو برسیره یو ځل بیا د ښځو د ازادۍ مسلې ته ډیر زیات زور ورکړ. د جرګې په جریان کي یې د خپلي میرمني ثریا او خپلي کشرۍ خور نورالسراج مخونه لوڅ کړل او په دې توګه یې وښودل چې د ښځو د لوڅ مخی په مسله کي پر خپله فیصله ټینګ ولاړ دی. هغه ښځو ته په یوې وینا کي وویل چې ستاسي میړونه تاسي په بندیخانو کي ساتي او تاسي په ژوندوني ښخوي. زه وایم د حجاب په برخه کي د خپلو میړونو پر خبرو غوږ مه نیسی. او که چیري

ketabton.com - The Digital Library

ستاسي میرونه تاسي په زور د حجاب اغوستلو ته مجبوري او یا مو د سات تیري او تفریح ځایونو ته نه پریږدي خپل میرونه وولی او حتی دی حاضر دی چي ښځو ته وسلې ورکړي. ستیوارټ ص ۳۷۷( البته د اعلیحضرت امان الله خان دا خبره یوازي د برهان الدین کشککي، چي نادرخان ته د خوش خدمتۍ او غوړه مالۍ له امله، له امان الله خان سره دښمني ښیی، د نادر افغان په نوم په کتاب کي راغلې ده. ص ۳۲۳او ستیوارټ هم ښایی بل مأخذ ونه لري(

د سپتامبر پر پنځمه د لویی جرګې غونډي پای ته ورسیدلې. د جرګې غړو د امان الله خان پیشنهادونه منظور کړل او د هغه تقریبا ټول پلانونه یې ورسره ومنل خو د جرګې اکثریت غړو د هغه دا پیشنهاد چي ویل یې د ښځې دپاره دي د واده کولو سن اته لس او د نارینه دپاره دي دوه ویشت وټاکل سي په کلکه رد کړ. دغه راز یې د نجونو لپاره په داخل او خارج کي عصري غربي تعلیم او تربیه رد کړه .ګریګوریان ص ۲۶۰ ګل اغا مجددي پوهیدی چي د جرګې غړي تقریبا ټول خوابدي او د امیر د نویو اصلاحاتو ، په تیره بیا د ښځو د لوڅ مخیو، تعلیم او تربیې او حقوقو سره مخالف دي. دی پوهیدی چي هغوی ټول به خپلو کلیو او باندو ته داسي پیغامونه ورسره یوسي چي په ټولو سیمو کي به امان الله خان ته د مخالفت او بغاوت اورونه بل کړي. پخپله ګل آغا او معصوم مجددي د قاضي محمد عثمان او اوو تنو لویو ملایانو سره په پټه د خوست پر خوا روان سو. د څلورو سووو ملایانو له خوا لاسلیک سوې فتوا یې ورسره واخیستله چي امیر امان الله خان یې کافر بللی وو. که څه هم چي هغوی په خوست کي ونیول سول او امان الله خان له ګل اغا او معصوم مجددي پرته نور ټول نیول سوي کسان اعدام کړل، خو نورالمشایخ ګل آغا مجددي یې بیرته د شمس المشایخ شیر اغا مجددي په غوښتنه خوشي کړ .پولادا ص ۱۷۰ ګل آغا د امان الله خان د غوښتني سره سم د افغانستان څخه ووت او په دیره اسمعیل خان کي یې ځای ونیوی او هلته یې د ساده پښتنو او زرهاوو مریدانو په غولولو او لمسولو، چي دم او چوف او پیر او کرامت ته یې د اسماني کتاب او احکامو په څیر عقیده درلوده، بناء وکړه.

دا وخت د کابل په شمال کي د کوهدامن، کلکان، استالیف او نورو برخو کي، د حبیب الله کلکاني او سید حسین په مشری، یوې ډلې غلو او داړه مارانو د لویو لارو امنیت خراب کړی وو. په هغه سیمه کي حکومتي اداره دونه کمزورې وه چي د دې غلو مخه یې نه سوای نیولای.

د جرګې څخه وروسته لنډو شپو ورځو کي په شینوارو کي یو ښورښ پیل سو چي تقریبا د ټولو وروستیو بدمرغو پېښو پیلامه سوه، او کیدلای سوای چي په لومړي سر کي یی په ډیره اساني مخه ونیوله سي، د مرکزي حکومت او ولایاتو ترمنځ له یوې خوا او د ولایاتو او اولسوالیو او کلیو ترمنځ له بلې خوا مناسب ارتباط موجود نه وو. د مرکزي حکومت دښمنانو او هغو کسانو چي ښایی له حکومت سره به یی خاصه دښمني نه درلوده بلکه له اوضاع څخه به یی ګټه پورته کوله له دغې بې ارتباطی څخه پوره ګټه واخیستله او د مرکزي حکومت او د حاکم او حاکم اعلی پر ضد یی راز راز تبلیغاتو او اوازو ګډولو ته زور ورکړ. دې تبلیغاتو هغه وخت زیات زور واخیست چي د پغمان د لویی جرګې استازي، چي اعلیحضرت امان الله خان غوښتل د هغوی په وسیله خپل پیغامونه تر خلکو ورسوي، خپلی سیمي، شینوارو، ته ورسیدل او د جرګې او د هغې د نویو فیصلو په باب یی داسي تبلیغات او پروپاګنډونه وکړل چي د شینوارو د ښورښ اور یی تر پخوا لا تازه کړ. بحران ونجات ص ۳۶ اعلیحضرت امان الله خان په دغه راز یوه چاپیریال کي، چي نه یی پیغام او نه یی ږغ د خپلو خلکو تر غوږونو رسولای سوای اقتصادي، سیاسی، اجتماعي، اداري، نظامي او فرهنګي اصلاحات پیل کړل او غوښتل یی چي په لنډ وخت کی خپل هیواد د سیالانو سیال کړي.

اعلیحضرت امان الله خان په داسی یوه وروسته پاته عنعنوی او په دننه کی پر متخاصمو فرقو او قومونو وېشل سوې ټولنه کی اصلاحاتو ته ملا وتړله چي په هغې کی هر اصلاحی پروګرام د یوه انقلاب را وستلو معنی درلوده. د دې اصلاحاتو په پیل کېدلو، تعقیبېدلو او ناکامېدلو کی د اعلیحضرت امان الله خان شخصیت او اغېزه تر بل هر څه زیات مطرح دي. دا ځکه چي افغانستان شاهی نظام درلود ، او شاهی نظامونه که هرڅونه ډیموکراتیک هم وای بیا هم پاچا تر ټولو قواو برتر او تر ټولو یې برخه او مسولیت زیات و. په عمومی صورت ویلای سو چي اعلیحضرت امان الله خان پر وطن او ترقۍ مین شهزاده و، خو په یوه وروسته پاته ټولنه کی د دونه ژورو او حتی آنی اصلاحاتو د راوستلو دپاره یوازی وطن پالنه او مینه کافی نه وه. امیرامان الله خان بیا هم یو شهزاده وو. هغه د ژوند ترخې او خوږې نه وې لیدلې. هغه ته قدرت په میراث پاته سوی ، او د اصلاحاتو د پروګرام له جدیت څخه یې ښکاري چي د خپل وطن په حالاتو سم خبر نه وو.

د افغانستان په تاریخ کی ښایی ډېرو لږو مشرانو د اعلیحضرت امان الله خان په څېر د ټولني په ټولو طبقاتو کی محبوبیت درلودلی وي. یوازې د غازی نوم کافی وو، چي د هغه په مقابل کی هر ډول ښورښ شرعا ناروا کړي او ټول مخالفین یې باغیان وبلل سي. ښایی دغه محبوبیت ، او د ده په نزد د اصلاحاتو حقانیت، هغه دونه مغرور کړی و چي د محمود طرزی په څېر هوښیار او وطن پالونکي او د نادرشاه په څېر تکړه او محتاط ملګري یې خوابدي کړل او د محمد ولی خان، محمود سامي او علی احمد خان په شان احساساتی، غوړه مالو او پر خپلو شخصی ګټو مین کسان یې پر ځان را وګرځول. هغوی اعلیحضرت امان الله خان د ټولني له ټولو واقعیتونو څخه بې خبره وساتی او هم یې د هغه د قدرت او ژوند په حساسه مرحله کی ځانونه ورڅخه ګوښه کړل او حتی د دښمن سره یې همکاري وکړه. پولادا ص ۱۲۳-۱۲۱

ketabton.com - The Digital Library

محمود طرزي، چی د امیر امان الله خان له ناکارو او غوړه مالو درباریانو سره يې چندانی گوزاره نه سوای کولای، له کابل څخه دعلاج دپاره سویس ته ولاړ. هغه که څه هم چی د اوږدې مودې دپاره په اروپا کی پاته سو، خو له اروپا څخه يې په افغانستان کی هغه څه لیدلای سوای چی امان الله خان د کابل له ارگ څخه نه سوای لیدلای، او یا يې چا د لیدلو مجال نه ورکاوه .محمود طرزي د کال ۱۹۲۷ د ډسامبر د میاشتی څخه مخکی، چی امیر امان الله خان د اروپا او اسیا د اوږدې دورې د پیل کولو دپاره تیاری کاوه، ځان له سویس څخه کابل ته ورساوه او اعلیحضرت امان الله خان ته يې وویل چی د افغانستان څخه په هیڅ توگه او د هیڅ مقصد دپاره د خارج په دونه اوږده سفر روان نه سی، ځکه چی د افغانستان وضع د هغه د دونه اوږده غیابت دپاره مساعده نه ده. دوپرې ص ۴۵۰ خو امیر امان الله خان د هغه مشوره ونه منله او د هغه کال د ډسامبر په میاشت کی د اروپا او آسیا په اوه میاشتنی دوره روان سو. اعلیحضرت امان الله خان پر خپله خبره ټینگ ولاړ وو. نه یوازی يې د اروپا د دونه اوږده سفر عزم فسخ نه کړ، بلکه محمد ولی خان يې، چی مخکی يې اروپایی هیوادونو او امریکا ته د سیار سفیر په حیث استولی و، د سلطنت د مقام د کفیل په حیث وټاکی، او سفر يې پیل کړ. پولادا ص ۲۰۱

سړی نه پوهیږي چی امان الله خان به د خپلو اصلاحاتو دعملی کېدلو دپاره د چا پر زور حساب کړی وو. ځکه چی د هغه اداري، پوځی، اقتصادی او اجتماعی اصلاحاتو له هغه څخه د لوړو او کښتو رتبو مامورین ، پوځی افسران، خانان او ملکان او د ټولنی پر عنعناتو مین خلک ټول خوابدي کړي وه. پولادا ص ۱۲۰ .د هغه پر ضد په جوماتونو کی تبلیغات روان وه او لویو ملایانو او پیرانو پر هغه باندی د کفر فتوا لگوله او ده بیا هم خپل اصلاحات په داسی توگه عملی کول لکه چی اصلا څه پېښه سوې نه وي.

په دې کی شک نسته چی ملایان، په تېره بیا پیران، چی هر وخت يې د انگلیسانو، سیکهانو او نورو غیر اسلامی قوتونو او ملکونو په مقابل جگړه کی تر هر چا او منظمو پوځونو او قواو زیاته او فعاله ونډه اخیستې وه، د افغانستان د استقلال د جنگ په وخت کی د اعلیحضرت امان الله خان تر ټولو ټینگ ملگري وه .مگر امان الله خان ته باید دا خبره څرگنده وای چی پر ملایانو او پیرانو باندی یوازی د جهاد په وخت کی حساب کېدلای سی. او کله چی د افغانستان په څېر وروسته پاته، بېسواده او پر خپلو عنعناتو باندی مینې ټولنی کی د اجتماعی اصلاحاتو، او هغه هم د امان الله خان په څېر انقلابی اصلاحاتو، حرکت پیل کېږی، نو ملایان او پیران تر ټولو د قوي او خطرناک دښمن په حیث د بې سوادو او بې خبرو خلکو د رهبرۍ بیرغ اخلی. او په هغه صورت کی یوازی منظم او قوي پوځی قوتونه او مرکزی غښتلی حکومت د هغوی په مقابل کی مقاومت کولای سی.

په داسی حال کی چی اعلیحضرت امان الله خان خپل پوځ پخپله کمزوری کړی، او د مرکزی حکومت ډېرو سترو مقاماتو يې د ناراضی او فعالو سیاسی پیرانو ، د شور بازار له حضرتانو، گل آغا او شیرآغا سره اړیکی درلودل، او د امان الله خان پر ضد دسیسو کی يې برخه ورسره اخیستله .ستیوارټ ص ۳۳۰

بر سېره پر دې چی د امان الله خان د اجتماعی اصلاحاتو په مقابل کی پراخ مذهبی عکس العمل موجود، او تقریبا په هر جومات کی پنځه وخته په میلیونو مسلمانانو د هغه په مقابل کی د ملایانو تبلیغات اورېدل. برسېره پر دې چی په اروپا کی د هغه د ملکې ثریا په لوڅ مخ او لوڅو مړوندونو کی اخیستل سوي عکسونه د افغانستان په عنعنوی او بې سواده ټولنه کی لاس پر لاس کېدل، او ټولو خلکو خپل پاچا تکفیراوه، یا يې لږ ترلږه د تکفیر فتوا منله. او برسېره پر دې چی گل آغا مجددی د څلورو سوو مذهبی عالمانو او مشهورو ملایانو څخه د امیر د کفر فتوا تر لاسه کړې او دافغانستان په اطرافو کی يې خپروله ستیوارټ ص ۳۹۰ امیر امان الله خان د خپلو بې وختو اصلاحاتو د راوستلو په برخه کی له خپل جدیت څخه لاس وانه خیست او په دغه وخت کی يې هم پېغلی نجونی د تحصیل دپاره ترکیې ته واستولې، او په دې توگه يې لگېدلی اور نور هم تازه کړ.

د کال۱۹۲۸ د سپټامبر د میاشتی د وروستیو شپو ورځو څخه د کابل په جنوب ، شمال او ختیځ کی د ښورښونو اورونه ولگېدل. په ختیځ کی د شینوارو او کوچیانو ترمنځ او څو تنو شینوارو د وژل کیدلو په قضیه کي محلي حکومت سمه فیصله ونه کړ؛ه د وژل سویو شینوارو قاتلان کوچیان يې بندیان کړل او څو ورځی وروسته يې بیرته خوشي کړل. حاکم اعلی، چي مخکي هم د رشوتونو په اخیستلو مشهور وو، د شینوارو په گومان، په دې قضیه کي رشوت اخیستی او د دوی د عزیزانو قاتلان يې خوشي کړي وه. او د بلي خوا په همدغو شپو ورځو کي امان الله خان یو شمیر نجوني په ترکیه کي د تحصیل لپاره انتخاب کړي او د مشرقي له لاري يې د شینوارو په سیمه کي په لاریو موټرونو کي د پېښور خواته بوتلې .

شینواري، چی مخکي لا حاکم اعلی ته په قار وه، دې مسلې نور هم وپارول او د ملایانو په هغو فتواوو يې باور راغی چي ویل يې اعلیحضرت امان الله خان کافر سوی دی. پر ملکي او نظامي تاسیساتو يې حملې وکړې او یوه چوڼۍ يې په بلي پسي تسلیم کړه. په لږ وخت کي واړه ښورښ ، چي پخپله شینوارو هم د یوه لوی او عام ښورښ کولو په نیت نه وو پیل کړی، زور واخیست او مرکز ته هغه وخت اطلاع ورسیده چي خبره له خبري تیره وه. مرکزي حکومت د دې ښورښ د کرارولو لپاره شیراحمد خان، د مشرقي د رییس تنظیمه په حیث ورواستاوه. شیراحمد خان د قوې په زور د ښورښ د

ketabton.com - The Digital Library

كرارولو پر ځای د سرخرود، چپرپهار، خوګیانیو او لغمانیو له قومونو څخه مرسته وغوښته او هغوی ته یې د شینوارو په مقابل کې وسلې ورکړې . محلي خلک یې، چې پخوا لا ملایانو او حضرتانو د حکومت پر ضد تبلیغات او پروپاګندونه ورته کړي وه، په لوی لاس وسله وال کړل او په لږ وخت کې ښورښ ډیر پراخ سیمه ایز شکل واخیست. یاغیانو بالاخره د جلال اباد ښار محاصره کړ او ایله دغه وخت امان الله خان متوجه سو چې د مشرقي ښورښ تر هغه چې مخکې یې فکر کیدی ډیر جدی دی. اعلیحضرت امان الله خان د محمد خان یاور تر قوماندانی لاندې، چې پروفیسر محمد علي یې د دربار یو نازولی بولي او وایي چې په ژوند کې یې عسکري تجربه نه درلوده، د جلال اباد د محاصرې د ماتولو لپاره یو پوځ ور واستاوه. هغه جلال اباد ته د ور تللو او د محاصرې د ماتولو پر ځای د ښار څخه شل میله لیرې په نیمله کې تم سو. د جلال اباد قوې چې هر څومره د مرستې غوښتنې وکړې محمد خان یاور له ځایه ونه خوځید؛ تر څو چې په خپل پوځ کې دننه د کوهستانیانو یوې ټولۍ محاصره او بندي کړ او یاغیانو ته یې واستاوه. عسکري قوه ټوله چور سوه. یاغیان نور هم وسله وال او غښتلي سول او څو ورځې وروسته جلال اباد هم د یاغیانو لاسته ورغی. یاغیانوحکومتی پوستې او قشلې چور کړې ، د برتانیې قونسلګري یې چور او وسوځوله. لږې ورځې وروسته قبایلي خلکو چې خپلو په اسانه لاسته راغلو بریاوو مغرور سوي وه اتفاق وکړ. شینواري، خوګیاني او په وروسته کې مهمند او نور اقوام ورسره یو ځای سول او د ښورښ د کرارولو کار د حکومت له واکه ووت. محمد علي ص ص ۱۸-۱۷ اعلیحضرت امان الله خان د کا بل څخه ډیره لویه قوه د شینوارو او مشرقي د دې ښورښ د ځپلو لپاره واستوله. الوتکو پر اولسونو باندې بمبارۍ هم وکړې. خو بمبارې نه یوازې چنداني ګټوره نه وه بلکه خلک یې نور هم په قار کړل. موږ مخکې اشاره وکړه چې دا قوه او څو نورې وړې او لویی قشلې د حکومتي مقاماتو د بې کفایتیو، نامردیو او حتی خیانتونو له امله یاغیانو ته تسلیم سوې. په نتیجه کې یاغیان ډیر زړه ور سول او کابل تقریبا بې دفاع پاته سو.

د دفاع وزارت په ډیرتلوار اطرافي خلک عسکرۍ ته جلبول او وسله وال کول خو هغوی که به د جنګ میدان ته ولاړل نو جنګ یې ځکه نه سو کولای چې عسکري روزنه یې نه درلوده او تر ګټې یې تاوان زیات وو ، او کنه نو زیاتره به یا له ښورښیانو سره یو ځای کیدل او یا به له وسلې سره وتښتیدل. محی الدین انیس خو وایي چې د کابل جنګي طاقت صفر ته نیژدې سوی وو او د اطرافو څخه داسې اوازې را رسیدلې چې د خلکو پر عمومي روحیاتو یې ډیر منفي تاثیر کاوه. پر عسکري قواوو باندې د خوګیانیو د حملې په نتیجه کې منظمو قواوو ډیره سخته ماته خوړلې وه او د دفاع وزارت مجبور سو چې هر څه عسکر چې یې درلودل هغه جلال اباد ته واستوي او د یوې لویې حملې مخه ونیسي. بحران و نجات ۵۴-۵۲

حضرتانو او ملایانو په کابل او نورو ښارونو کې خپلو پروپاګندو او د دروغو تبلیغاتو ته زور ورکړی وو. اعلیحضرت امان الله خان له دې پروپاګندونو سره د مقابلې لپاره تقریبا هیڅ وسیله په لاس کی نه درلوده. یو ځل اوازه ګډه سوه چې حکومت آذانونه بندوي او د جوماتونو دراوزې تړي. یا مثلا پاچا کوم پیر او ملنګ ته سپکاوی کړی دی. بحران و نجات ص ۵۵

یوه اوازه په ښارونو کې خپره سوه چې امان الله خان له اروپا څخه د مړو د سوځولو ماشین راوړی دی. تردې مخکې یې یوه بله اوازه ګډه کړې وه او ویل یې چې امان الله خان د مړو څخه صابون جوړوي. عوامو به ویل چې ماړه او خانان په دیرش روپې سوځوي، نیستمن خلک وړیا سوځول کیږي او ملایان د ناروغیو د خپریدلو د مخنیوي لپاره سوځوي. سټیوارټ ۳۹۳

دا اوازې په داسې منظمه توګه خپریدلې چې د هغه وخت لیکوالان او ژورنالیستان په دې باور وه چې رهبري ورته کیږي او له یوه خاص مرکز څخه خپریږي ځکه چې په عین وخت کې به په کابل، لوګر او په ټولو شمالي سیمو کې په یوه وخت کې یو شان آوازه خپره سوه او دغو اوازو د اغتشاش لمبو ته نور هم زور ورکاوه .بحران و نجات ص ۵۵

د مشرقي د سیمو ښورښونه روان وه چې د سقاو زوی حبیب الله کلکاني، چې دا وخت یې په پاراچینار کی سماوار کاوه، خپل ځان کوهدامن ته ورساوه او د خپل پخواني بادار ملک محسن په کور کې دیره سو. د لارو په وهلو او امنیت خرابولو یې پیل وکړ. هغه د حکومتي مامورینو له ناپوهی او اداري فساد څخه ګټه واخیستله. کاروانونه یې لوټل او لوی سوداګران به یې غرونو ته ورسره پورته کول او بیا به یې د ډیرو پیسو په بدل کې خوشې کول. حکومتي مقاماتو یا تشه تماشه کوله، یا له کلکاني سره شریکان وه او یا دونه بې تجربې وه چې څه یې کولای نه سوای او د وضعیت خطر یې نه احساساوه. د باچا غوره مالو سلاکارانو هغه غولاوه او د خیریت رپوټونه به یې ورکول. ځینو درباریانو د سقاو له زوی سره اړیکې درلودلې او هغه ته یې پیسې او وسلې لیږلې. محمد علي ص ۲۱ د سقاو زوی بالاخره پر حکومتي پوستو او عسکرو باندې حملې پیل کړې او یوه ورځ یې پر هغه حکومتي خزانه باندې چې د مزار څخه کابل ته وړله کیدله حمله وکړه او غونډه خزانه یې غرونو ته یورته کړه. حکومتي پوځیان د هغه په نیولو کې ناکام سول .بالاخره خبره دې ځای ته ورسیدله چې مرکزي حکومت له هغه سره د مذاکرو کولو ته مجبور سو. حبیب الله کلکاني د مرکزي حکومت له خوا د تنظیمیه هیات د ریس احمد علي خان سره خبري وکړې او له هغه سره یې یوه موافقتنامه لاسلیک کړه. په دې موافقتنامه کې راغلي وه چې

ketabton.com - The Digital Library

حبیب الله کلکاني به د خپلو شریرو اعمالو څخه لاس اخلي او توبه به کاږي. حکومت به د هغه او د هغه ملګري سید حسین او نورو انډیوالانو ټول ګناهونه بخښي. کلکاني او سید حسین ته به د جنرالی رتبه ورکوي. هغوی ته به ۸۲ میله ټوپکونه او مرمۍ ورکوي. هغوی هر یوه ته به د کاله دیرش زره افغانۍ او د هغوی ورسره ملګرو ته به د میاشتي دیرش افغانۍ تنخوا ورکوي .بحران و نجات ص ص ۷۵-۷۴
د سقاو له زوی سره تر دې موافقتنامې وروسته د کابل خلک یو څه بیغمه سول او اعلیحضرت امان الله خان هغه ته پیغام واستاوه چې، د یوه جنرال په حیث، د مشرقي د ښورښ په ځپلو کي برخه واخلي او خپلي قواوي د والي علي احمد خان سره یو ځای کړي. پاچا غوښتل چي په دې توګه یو دښمن په بل ووهي خو د سقاو زوی پوره هوښیار وو او له دې فرصت څخه يې ښښېره ګټه واخیستله. هغه پوه سو چي مرکزي حکومت دونه کمزوری دی چي د ښورښ په ځپلو کي له ده څخه مرسته غواړي نو د امان الله خان د لیکلي پیغام په اساس یې په قانوني توګه د عسکرو په غونډولو او د حکومتي وسلو په ویشلو پیل وکړ. کله چي ښې قواوي جمع کړې نو خپلي پالیسی ته یې تغیر ورکړ او پر کابل باندي یې د حملې لپاره حرکت پیل کړ .محمد علي ص ص ۲۴-۲۳
په دغه وخت کي د تګاب امنیتي وضع هم سخته خرابه سوه او د هغي سیمي خلکو د حکومت سره مخالفت پیل کړ. حتی د تګاب اخندزاده صاحب، چي تر ډیره وخته یې د اعلیحضرت امان الله خان طرفداري کوله، له مخالفینو سره خپل ږغ یو کړ. د ژمي په یوه سړه شپه کي څو تنه خانان او د سقاو د زوی ملګري د ملا ویس الدین په قلعه کي را ټول سول. دوه تنه ملایان یې ورسره بوتلل. د سقاو د زوی ملا یي ور وتړله او هغه یې د پاچا په حیث اعلان کړ. بحران و نجات ص ۷۸
د سقاو زوی په سبا د کلکان او کوهدامن خلکو ته خپله پاچهي اعلان کړه . خپل مرستیال سید حسین یې د جبل السراج د نیولو لپاره واستاوه او پخپله یې د کابل پر لور حرکت پیل کړ. د هغه په مقابل کي هري قوې ماته خوړله او د کال ۱۹۲۸ د ډسامبر پر دیارلسمه یې د ډزو ږغونه د کابل په شاوخوا کي واوریدل سول. د کابل جنګي او پوځي وضع دونه خرابه وه چي که د حربي ښونځي اته لسو تنو شاګردانو د سقاو د زوی پر قواوو ډزي نه وای کړي ښایی په هغه ورځ یې ارګ نیولی وای. د دفاع په وزارت کي نور دفاعي قوت پاته نه وو او د دفاع وزیر عبدالعزیز خان لاس و پښه وو. پروفیسر محمد علي وایی چي حتی په دغه وخت کي هم خاینو او غوړه مالو درباریانو پاچاته غلط اطلاعات ورکول او هغه ته یې ویل چي د اندیښني خبره نسته. دا یو څو غله دي او د کابل پر ښار باندي د حملي کولو له جاهلانه عمل څخه پخپله پښیمانه سي. خو امان الله خان پخپلو غلطیو پوه سوی وو او له دې امله ډیر پښیمانه وو چي خپل هغه مامورین او افسران یې چي ده د تنګسي او ضرورت په وخت کي حساب وربانډي کولای سوای له لاسه ورکړي دي. محمد علي ص ۳۲
اعلیحضرت امان الله خان ته نه پوځ او نه ملګري پاته وه. د هیواد پر تولو خلکو یې ږغ وکړ چي د خپل حکومت ملاتړ وکړي او کابل له سقوط څخه وساتي. د هیواد له هري برخي څخه خلک پر پایتخت باندي رامات سول. څوک په دې تمه چي د بري په صورت کي به ګوندي غټ انعامونه ترلاسه کړي او څوک په دې تمه چي د حکومت د سقوط په صورت کي به په چورکي ښه برخه واخلي. د وسلو شاهي ګودامونه پرانیستل سول او ټولو هغو کسانو ته وسلي او مهمات ورکول کیدل چي د خدمت کولو لپاره یې تیاری ښود. له دې وضع څخه د سقاو طرفدارانو هم ګټه واخیستله او د عسکري خدمت په پلمه یې وړیا وسلي ترلاسه کړې. محمد علي ص ص ۳۴-۳۳
یوه میاشت وروسته د سقاو د زوی قواوو د کابل د ښار نیژدې شاوخوا سیمي ونیولې. اعلیحضرت امان الله خان د جنوري پر څوارلسمه استعفی وکړه او د کندهار پر لور وخوځیدی. خپله پاچهي یې خپل مشر ورو عنایت الله خان ته پریښودله. عنایت الله خان د سقاو سره د سولي لاره غوره کړه او د هغه مجددي په رهبري یې سقاو ته د سولي هیات واستاوه چي کلونه یې د امان الله خان د اصلاحاتو پر ضد دسیسې او تبلیغات کړي وه. کله چي مجددي د حکومتي عسکرو مورچو ته ورسیدی نو هغو ته یې وویل چي خبره ختمه ده. امان الله خان استعفی کړې او له کابل څخه وتلی دی. هر څه به په سوله فیصله کیږي. څه عسکرو چي لا یې ښایی د سقاو په مقابل کي د مقاومت خیال درلود خپلي مورچې پریښودلې او خپلو کورونو ته ستانه سول.عنایت الله خان، چي نور په ارګ کي د پاته کیدلو لپاره هیڅ ورته پاته نه وه، استعفی وکړه او د انګریزانو په الوتکه کي، چي سفیر همفریس ورته برابره کړې وه، پیښور ته پرواز وکړ. د سقاو د زوی لښکرو ارګ ونیوی او حبیب الله کلکاني د خادم دین رسول الله امیر حبیب الله په نوم پاچا سو. په مشرقي کي والي علي احمد خان، چي هغي سیمي ته د ریس تنظیمه په حیث لیږل سوی وو، ځان پاچا اعلان کړ. البته ډیر ژر د خوګیانیو او نورو قبایلو له مخالفت سر مخامخ سو او ایله ځان یې ژوندی پیښور ته ورساوه .اعلیحضرت امان الله خان بیرته خپل ځان پاچا اعلان کړ او له کندهار څخه یې د کابل د نیولو لپاره عملیات پیل کړل. په دغو شپو ورځو کي سپه سالار محمد نادرخان له فرانسې څخه ځان د برتانوي هند خاوري ته ورساوه او لږي ورځي وروسته د خپلو ورونو شاه ولي خان او محمد هاشم خان سره د افغانستان خاوري ته ننوت.

ketabton.com - The Digital Library

غلام نبي خان چرخي
د سپه سالار غلام حيدرخان چرخي زوی، سپه سالار غلام نبي خان چرخي د اعليحضرت امان الله خان تر ټولو وفادار او فداکار ملګری ګڼل کيږي. ګواکي د امان الله خان يوازينی لايق او وفادار منصبدار وو چي تر مرګه يې وفا ورسره وکړه او کله چي اعليحضرت امان الله خان د هغه د فداکاريو او قربانيو په باب رپوټونه ترلاسه کړي وي نو حتما به يې ارمانونه ور پسي کړي وي.
غلام نبي خان چرخي، چي په دغه وخت کي په شوروي اتحاد کي د افغانستان سفير وو، د هغه هيواد له حکومت څخه وغوښتل چي له امان الله خان سره په کابل کي د بيرته پاچا کيدلو په لاره کي مرسته وکړي. د شوروي اتحاد د کمونيسټ ګوند سياسي دفتر په دې باره کي يوه عاجله غونډه وکړه. په غونډه کي د خارجه وزارت مقامات د اميرامان الله خان د بيرته پاچا کيدلو طرفدار وه او د ګې پي او مقاماتو د سقاو د زوی طرفداري کوله او ويل يې چي دا په افغانستان کي د زيارکښانو انقلاب دی او بايد چي ملاتړ يې وسي. خاطرات اقابکف ص ۳۱۲
يوه شپه د کمونيسټ ګوند د سياسي دفتر په هغه غونډه کي چي ستالين، غلام نبي خان او په افغانستان کي د شوروي د سفارت پوځي آتشه پريماکوف برخه پکښی درلوده، فيصله وسوه چي د سره پوځ يوه ډله عسکر دي په افغاني جامو کي د پريماکوف تر قوماندې لاندي افغانستان ته حرکت وکړي. دوی بايد په پټه توګه د افغانستان خاوري ته ننوزي او تر کابل پوري دي پر مخ ولاړ سي. د دې لپاره چي د دوی په مقابل کي کوم خنډ پيښ نه سي نو د دې پوځي قوې ظاهري مشري دي د غلام نبی خان سره وي.
څو هفتي وروسته يوه ورځ سهار وختي د ترمز پر سرحدي ښار باندي شوروي قواوو حمله وکړه .سرحدي ساتونکو د شوروي پر الوتکو باندي ډزي ومړې خو عسکرو له الوتکو څخه د ماشيندارانو ډزي ورباندي وکړې او ټول يې ووژل. له دې څخه وروسته يوه اته سوه کسيزه پياده قوه، چي په تاشکند کي له تر تولو تکړه قطعو څخه جوړه سوې وه، د افغانستان خاوري ته ننوتل. له دې قوې سره ماشينداران او توپونه ورسره وه. د مزار شريف پر لور يې حرکت وکړ او په لار کي چي يې افغاني پوځيانو مخه ونيوله هغه يې ټول له منځه يوړل. د دې قوې په مقابل کي د مزار شريف په شاوخوا کي مقاومتونه وسول خو ډير ژر شنډ سول او د شوروی سرو عسکرو، چي افغاني جامې يې په ځان کي وي، ډير ژر د مزار شريف د ښار کنټرول واخيست. د حملي له پيل څخه د مزار شريف تر نويل کيدلو پوري د افغانانو د تلفاتو شمير دوو زرو تنو رسيږي. خاطرات اقابکف ص ۲۰۵-۲۰۴
محی الدين انيس هم وايي چي وروستنی مقاومت د سقاو د زوی د ريس تنظيمه له خوا وسو چي له ايبک او تاشقرغان څخه يې دوه زره تنه جمع کړي او د مزار شريف پرښاريې يرغل وکړ. خو له يوې لنډې مقابلې وروسته، سقاويانو ماته وخوړه .
بحران و نجات ص ۱۹۷ خو د حيرانتيا خبره دا ده چي محی الدين انيس د سقاويانو د حکومت دا تبليغ نه مني چي وايی د روسانو قواوو د افغانستان پرخاوره باندي حمله کړې ده او وايی هغه څوک چي را روان وو، روس نه بلکه غلام نبي خان وو. مګر په حقيقت کي د سقاويانو تنظيميه هيات د وطن پر خاوره باندي د روسانو د حملي د آوازې په ګډولو سره يو لوی چال وواهه. ځکه چي که يې ويلي وای چي غلام نبي خان حمله کړې ده نو خلک به داسي فکر وکړي چي ورور وژنه کيږي او را غونډ به نه سي .هغه کتاب ص ۱۹۶
آقابکف وايی د سقاو د زوی مجاهدين اکثر هغه بخارايی او ترکمن مهاجرين وه چي د مزار شريف په ختيځ کي را غونډ سوي وه او د غلام نبي خان د قواوو د پرمختګ مخه يې نيوله. غلام نبي خان هم د مزار شريف او د ښار د شاوخوا خلک را غوند کړل او د سرو عسکرو سره يو ځای يې د تاشقرغان پر لور حرکت پيل کړ. د تاشقرغان سره نيژدې د دواړو قواوو ترمنځ ډير سخت جنګ وسو. د سقاو قواوو له شپږ ساعته جګړې څخه وروسته ماته وکړه او تقريبا درې زره تنه يې ووژل سول. د غلام نبي خان او روسانو قواوو په ډيره اسانی د تاشقرغان ښار ونيوی او د خان اباد پر لور يې پرمختګ پيل کړ .خاطرات آقابکف ص ۲۰۵
محی الدين انيس وايی کله چي د مزار په باره کي د سقاو زوی ته خبر ورسيدی نو هغه د کابل د شاوخوا او کوهدامن څخه،په وچ زور، د سيدحسين په مشری، يوه قوه چي شمير يې څلورو زرو ته رسيدی د غلام نبي خان سره د جګړې لپاره وليږله. د ايبک په شاوخوا کي د دواړو قواوو ترمنځ يوه سخته جګړه وسوه د سقاويانو قوې ماته وکړه او سره وپاشل سوه. سيد حسين د بدخشان خواته عقب نشيني وکړه. له بدخشان څخه يې څو نوري حملي هم وکړې خو ټولي ناکامي سوې.
له خلکو سره دا هيله پيدا سوه چي ګوندي غلام نبي خان به هيواد وژغوري. خو له بده مرغه چي هغه ته غلام صديق خان تلګرام واستاوه چي امان الله خان له وطنه وتلی دی ته هم ووزه. غلام نبي خان هم يوه ورځ وروسته بيرته د روسيي خاوري ته ننووت. بحران ونجات ص ص ۱۹۷-۱۹۸
اقابکف وايی، په داسي حال کي چي جنګ روان وو، مسکو ته خبر ورسيدی چي امير امان الله خان يو ناڅاپه د سقاو له زوی سره له مبارزي څخه لاس اخيستی دی او له کندهار څخه هند ته تښتيدلی دی. په دې صورت کي زموږ د ليږل سوي قوې کار هم نيګړی پاته سو او غلام نبي خان ته هم له عقب نشينی پرته بله لاره پاته نه سوه. د سره پوځ ټولو عسکرو، د

ketabton.com - The Digital Library

ماسکو په امر، له جنګه لاس واخیست او درې ورځې وروسته ټول د شوروي په خاوره کې په خپلو قطعو کې ځای پر ځای سول .خو اقا بکف د شوروي د قواوو د عقب نشینی بل دلیل دا بولي چې په افغانستان کې په سفارتخانو کې او د اروپا په مطبوعاتو کې، په افغانستان کې د شوروي د قواوو د مداخلې خبره ډېره توده وه او ګې پې او ته په دې باب اطلاعات رسیدلي وه چې ټوله نړۍ د شوروي په مداخلې خبره سوې ده .ټولو خارجي هیوادونو، له هغې جملې څخه ایران او ترکیې، چې د شوروي اتحاد دوستان وه، د شوروي له مداخلې سره مخالفت ښودلی او په حقیقت کې دا خبره ډېره عجیبه ښکاریده چې یو کمونیستي هیواد، سلطنت ته، د یوه پاچا د بیرته رسولو لپاره فعالیت وکړي .خاطرات اقابکف ص ص ۲۰۵-۲۰۶

آقابکف وروسته لیکي چې په ماسکو کې د افغانستان مختار وزیر غلام نبي خان زموږ څخه وروسته وغوښتل چې د افغانستان په جګړه کې د نادرخان طرفداري وکړو .خارجه وزارت له هغه سره ژمنه وکړه چې که نادرخان د افغانستان په جنوب کې د انګلیسانو پر ضد سلوک اختیار کړي نو له هغه سره به معنوي مرسته وکړي .هغه کتاب ص ۲۰۷

نتیجه

د افغانستان په بیلو بیلو سیمو کې د سپه سالار محمد نادر خان جنګونه او د سقاویانو څخه د کابل د تخت نیول زموږ د مضمون موضوع نه ده. نادرخان د ۱۹۲۹ کال د اکتوبر پر پنځه لسمه پاچا سو. د نوامبر پر لومړۍ نیټه یې د سقاو زوی، د هغه ورور او د هغه یوولس تنه مهم ملګري او مشران اعدام کړل. اعلیحضرت محمد نادرشاه د اعلیحضرت امان الله خان اکثر اصلاحات تعقیب کړل او د قدرت په څلور کلنه دوره کې یې داسې پرمختګونه راوستل چې چایې انتظار نه سو کولای. د هغه د قدرت زمانه او پرمختګونه زموږ د مضمون موضوع نه ده. نادرخان د عسکرۍ په وخت کې یو لایق سپه سالار او د پاچهی په وخت کې یو هوښیار سیاستمدار وو. خو که یې د خپل استعداد او لیاقت څخه د امان الله خان سره د مخالفت کولو څخه نه بلکه د روغې کولو لپاره کار اخیستی وای ښایی د افغانستان تاریخ بل رنګ درلودلای وای. لیون پولادا په دې باره کې ډېر ښه قضاوت کوي او وایي چې که دا دواړه مشران سره یو لاس وای نو ښایی چې امان الله خان خپل تخت ژغورلی وای او نادرخان د هغه قاتل له مرمیو څخه بچ سوی وای چې د ده څلورکلني پاچهی ته یې خاتمه ورکړه .پولادا ص ص ۲۰۵-۲۰۴

داسې ښکاري چې نادرخان د دوستۍ تر پاللو د دښمنۍ په پاللو کې ټینګ وو .نادرخان ټول هغه کسان چې د اعلیحضرت امان الله خان په دوره کې یې اختلاف ورسره درلود او د افغانستان په خاوره کې په لاس ورغلل یو په یو یا اعدام او یا د بندیخانې شومه کړل او چې څه پاته وه نو د هغه دیکتاتور ورور سردار محمدهاشم خان یا مړه، یا تبعید، یا تېښتې ته مجبور او یا په زندانونو کې وراسته کړل.

اعلیحضرت امان الله خان له خپل ملت سره د یوه مهربان پلار او یوه خواږه ورور په څېر مینه درلوده. له هیواد سره د هغه عشق یوازې د شعر په ژبه افاده کیدلای سي. هغه په هیواد کې ټول اوسیدونکې خلک افغان بلل. د افغانستان خلکو د څه باندې یوې پیړۍ استبداد، داخلي جنګونو او انارشیو څخه وروسته هغه ته ضرورت درلود. که هغه په قدرت کې پاته سوی وای افغانستان ښایی د وروستیو څه باندې دریو لسیزو ناخوالې لیدلي نه وای.

په افغانستان کې، د امان الله خان په مقابل کې ټولې ستونزې د هغه د اصلاحاتو سره د ملایانو، حضرتانو، پیرانو او د زړو فکرونو د څښتنو سردارانو د اختلاف له امله را پیدا سوې. هغه ته په کار وه چې د خپلو اصلاحاتو څخه یې دفاع کړې وای. دفاع په دفاعي توان کیدلای سوای او هغه توان ته ده لازمه توجه ونه کړه. ویل کیږي چې هغه باید خپل پوځ تقویه کړی او بیا یې د اصلاحاتو پروګرام وړاندې کړی وای. دا خبره ډېره پرځای ده ، مګر کله چې موږ ګورو چې د سقاو د لښکرو مخه د حربې ښونځې اته لس تنه تر سر تیر شاګردان را ګرځولای او، د لنډ وخت لپاره، د ارګ او کابل د سقوط مخه نیولای سي نو ویلای سو چې یوازې پوځې کمزورۍ د امان الله خان ملا نه ده ماته کړې بلکه د افغانستان د خلکو او خاورې له دښمنانو سره د ارادې کمزورې او د نیژدې ملګرو نامردې د هغه د سلطنت ډېر مهم عامل سو. امان الله خان په تبعید کې د خپلو ویناوو په ترڅ کې دې خبرې ته څو ځله اشاره کړې ده چې هغه پوځې شکستونو نه بلکه د نیژدې مامورینو او مقاماتو نامردیو او خیانتونو د تخت پرېښودلو ته مجبور کړ. پولادا ص ۲۰۶

د اعلیحصرت امان الله خان د سقوط او له هیواد څخه د وتلو علتونه به ډیرزیات وي. خو څرنګه چې نه له بیکارۍ څخه د خلکو شکایتونو، نه د لوږې د لاسه د خلکو ښورښونو، نه د رشوت خورو او فاسدو مامورینو د لاسه د خلکو بغاوتونو او نه د ملایانو او پیرانو تبلیغاتو هغه ته ماته ورکړې، بلکه د جنګ په میدانونو کې یې، چې ښایی د ټولو پورتنیو علتونو په نتیجه کې پیل سوي وي، ماته خوړلي ده نو ځکه موږ وایو چې پوځې کمزورۍ د هغه د ماتیدلو اصلي علت سو. که له هرې حادثې سره د مقابلې لپاره جلا جلا قوتونه موجود وای ښایی خبره دونه ژر خرابه سوې نه وای. سر پرسی سایکس وایی د تاریخ په محکمه کې هغه ځکه محکوم دی چې پر افغانستان باندې د سقاو د زوی مصیبت ده نازل کړ .خو په دفاع کې یې ښایی دا وویل سي چې د هغه ډېر زیات اصلاحات چې ده خپل تخت ورباندې بایلود لازم او ګټور وه او په اینده کې

ketabton.com - The Digital Library

به کرار کرار عملي سي .سایکس ص ۳۱۷
ځیني مورخین په دي عقیده دي چي امان الله خان باید لومړی خپله ټولنه ښه په غور کتلي او پیژندلي وای. او وروسته یي د خپلو ژورو او هر اړخیزو اصلاحاتو عملي کولو ته ملا تړلي وای. هغه باید دا معلومه کړي وای چي په هغه قبایلي سیستم کي چي د ده نیکه امیر عبدالرحمن خان، د مرکزي حکومت د ټینګولو په منظور، ګوزار ورکړی وو څوموره زور پاته دی. اعلیحضرت امان الله خان باید د اصلاحاتو او د پوځ د غښتلي کولو او د هغه په زور د قبایلو د احتمالي مقاومت د ماتولو کارونه په یوه ځل او یو ځای نه وای پیل کړي. دواړه کاره کول هغه ته ممکن نه وه. د هغه نیژدې پوځي سلاکار سپه سالار محمد نادر خان هغه ته تر هر څه مخکي د پوځ د غښتلي کولو او ښه روزلو مشوره ورکړي وه .پولادا ص ص ۲۷۳ ــ ۲۷۴ دغه راز افغانستان په وچه کي راګیر نیستمن هیواد دی .امان الله خان په داسي شرایطو کي ښو ګاونډیانو ته اړتیا درلوده چي د تنګسي په وخت کي د هغه له دښمنانو سره مرسته ونه کړي او که له ده سره خواخوږي نه کوي نو لږ ترلږه بیطرفه خو پاته سي. امان الله خان له یوې خوا د برتانوي هند پر ضد، چي د خپل وخت تر ټولو لوی استعماري طاقت وو، تبلغیات کول او په وچ زور به یې د هغو دښمني را پاروله . اعلیحضرت امان الله خان په ارادو قبایلو کي پیسي ویشلي او له برتانیي سره دا اندیښنه وه چي دا پیسي له شوروي اتحاد څخه راځي. پولادا ص ص ۲۴۷-۲۴۶ برتانوي هند به هم په خپل وار دننه په دربارکي د ناراضی عناصرو سره تماسونه ټینګول او چي څه وخت وروسته د امان الله پر ضد په ټول هیواد کي د بغاوت اورونه بل سول نو د هغه مخالفو ملایانو او پیرانو ته یې د برتانوي هند په خاوره کي د ازادو تبلیغاتو او پروپاګندونو او په قبایلو کي د ورانکاریو د کولو زمینه برابره کړه.
کله چي امان الله خان د کندهار څخه د کابل د بیرته نیولو دپاره پوځي عملیات پیل کړل او ځان یې تر غزني پوري ورساوه. هلته یې د غلجیو له قبایلي خلکو څخه ګیله وکړه چي ولي د ده د حکومت پر ضد جنګیږي. هغوی ورته وویل چي ستا دښمنان دوه تنه دی . یو د سقاو زوی او بل پیرصاحب. شیرآغا د غلجي قبایلو پیر صاحب وو چي لکه بد شګون په ډیره چټکی د هند له لوري د غزني پر لور روان وو او په لار کي یې خپل غلجي مریدان پر امان الله خان باندي حملو ته تشویقول . شیراغا او د هغه سره ملګرو ملایانو تبلیغ کاوه چي د کابل تخت د سقاو د زوی په لاس کي دی. نو په دې صورت کی امان الله یاغي دی. سټیوارټ ص ص ۵۵۶-۵۵۷

اعلیحضرت امان الله خان ، پر دې برسیره، له خپل شمالي ګاونډي شوروي اتحاد سره هم ښې اړیکي نه درلودلي او حتی د پاچهی په لومړیو کلونو کي یې ډیر سخت مخالفتونه ورسره پیدا سول. امان الله خان ښایی غوښتل چي په سیمه کي د ټولو او یا ډیرو اسلامی قومونو او هیوادونو مشري وکړي. د هند د خلافت ګوند د وخته لا فیصله کړې وه چي، د عثماني امپراطورۍ د سقوط څخه وروسته به، د خلافت چینه ده ته ور اغوندي. ځوان اعلیحضرت به دغه راز فیصلو حتما مغرور کړی او د اسلامي نړۍ، یا لږترلږه د ګاونډیو اسلامی هیوادونو، د مشرۍ آرزو به یې ورپیدا کړې وي.
اعلیحضرت امان الله خان، لکه څرنګه چي یې په ازادو قبایلو کي د انګریزانو پر ضد تبلیغات کول، د شوروي اتحاد په اسیایی هیوادونو کي یې هم باسماچیانو( د شوروي رژیم مخالفو وسله والو جنګیالیو) ته مرستي ور پیل کړې. حتی د جنګ وزیر نادر خان یې، د فرغاني له یاغیانو سره د نیژدې تماس ټینګولو لپاره قطغن ته واستاوه. خپل نور عالي رتبه مقامات یې، د همدغه مطلب لپاره، مزار شریف او هرات ته ولیږل. ادمک ص ص ۷۰-۷۱
امان الله خان په مرکزي اسیا کي د خپل نفوذ د زیاتولو لپاره له بخارا سره ډیلوماتیک اړیکي ټینګ کړل. په ترکستان کي یې د شوروي د مخالفینو د مقاومت له مشرانو سره تماسونه ټینګ کړل او وسلې او جنګیالي یې ورلیږل .ګریګوریان ص ۲۳۵
شوروي اتحاد د افغانستان د دغه راز مداخلو او غیر دوستانه سلوک له امله په ماسکو کي د افغانستان سفیر غلام نبي خان چرخي ته خپل احتجاج واستاوه او افغانستان ته یې اخطار ورکړی چي باید له دغه راز اعمالو څخه یا لاس واخلي او یا به یې دغه راز مداخلي ښه عواقب ونه لري .ادمک ص ۷۱
که څه هم چي افغانستان شوروي اتحاد ته اطمینان ورکړ چي د هغه هیواد په داخلي چارو کي به مداخله نه کوي او په عمل کي یې هم د شوروي اتحاد باور تر لاسه کړ او اړیکي بیرته دوستانه سوې خو داسي ښکاري چي افغانستان یو ځل بیا د آمو په سیند کي د ینګي قلا په ټاپو کي هغو تقریبا زرو تنو اوزکو ته ځای ورکړی وو چي د شوروي اتحاد څخه تښتیدلي او هغه ټاپو ته ورغلي وه. اوزبکو یاغیانو له هغه ځایه څخه د شوروي حکومت پر ضد پوځي عملیات کول او شوروي قواوو هغه ټاپو د کال ۱۹۲۵د ډسامبر په میاشت کی اشغال کړ. د افغانستان حکومت پر خپله خاوره باندي دا تیری ونه زغامه او اعلان یې وکړ چي د هغه هیواد پر پاکه خاوره باندي شوروي قواوو تیری کړی دی. امان الله خان د شمال لوري ته د پوځي قواوو د لیږلو امر وکړ. خو شوروي قواوو په هغه ټاپو کي د یاغیانو قواوي دړي وړي کړې او نور یې دا کوچنی ټاپو په دې نه ارزاوه چي د دواړو هیوادونو ترمنځ اړیکي ورباندي خړ پړ سي او په لوی لاس ځانته یو بین المللی ډیپلوماتیک جنجال پیدا کړي. شوروی قواوي د ۱۹۲۶ کال د فبروري په میاشت کي بیرته پر شا سوې او د دواړو

ketabton.com - The Digital Library

هیوادونو ترمنځ د دوستی د موافقې په نتیجه کې هغه ټاپو د افغانستان خاوره وګڼله سوه. که څه هم چې دا جنجالونه به پر خپل وخت فیصله سوي وي خو بیا هم د د ګاونډیو هیوادونو په تاریخ کې یو فصل دی او لړ ترلړه په یوه ټاکلي وخت کې به یې د ګاونډیانو ترمنځ زړه بداوی او په اینده کې بدبیني پیدا کړې وي.

اعلیحضرت امان الله خان په ډېره ځوانی کې قدرت ته ورسیدی. هغه نه تجربه او نه مطالعه درلوده. به یوه وروسته پاته ټولنه کې زیږیدلی او لوی سوی وو. د بهرنی نړۍ او د هغې د پرمختګونو په باره کې یې یوازې کیسې اوریدلي وي. پر خپلي خاورې او خلکو مین وو او له ترقي او پرمختګ سره یې لیونی مینه درلوده. هغه په هره برخه کې پرمختګ غوښتی خو د پرمختګ په لارو چارو نه پوهیدی. هغه ته په هیواد کې د اصلاحاتو د ښمنان ور معلوم وه، او یا ښایی د خوست د پاڅون څخه وروسته ښه ورته څرګند سوي وي، خو د اصلاحاتو د دښمنانو سره د مبارزې، د هغوی د کرارولو او یا له منځه وړلو چل نه ورتلی .امان الله خان د قبایلو سره د ګوزارې کولو او د هغوی د مقاومت د روحیې د ماتولو څخه نیولې په اقتصادي، اجتماعي او فرهنګي ساحو کې د اصلاحاتو راوستلو او پوځ د روزلو پورې په هره ساحه کې ښو مشورو او ښو سلاکارانو ته ضرورت درلود. خو هغه یو پاچا وو. د هغه فیصله چا نه سوه ماتولای او خبره یې آخري خبره وه. د پاچاهانو، معمولا، هغه مشورې خوښې وي چې د دوی پرزړه جوړې وي. هوښیار او صادق خلک خپلو مشرانو او پاچاهانو ته غلطې مشورې نه سي ورکولای او کله چې د پاچا له بیځایه نقشو سره مخالفت وکړي او یا سم سر ورسره ونه ښوروي نو خپل مقامات له لاسه ورکوي او له نظره لویږي. د هغوی ځای معمولا هغه غوړه مالان، نالایق او ابن الوقت کسان نیسی چې د پاچا د خوښې سره سم مشورې ورکوي. له دغه ځایه څخه د پاچاهانو تباهي پیل کیږي.

اعلیحضرت امان الله خان ته خپلو نیژدې هوښیارو سلاکارانو او مشروطه غوښتونکو مشوره ورکړې وه چې په یوه مشروطه نظام کې د صدراعظم او پارلمان درلودل حتمي دي. ځکه نو هغه د ارو پا له سفر څخه د راستنیدلو نه وروسته د اکتوبر پر پنځمه نیټه په خپله څلورمه وینا کې وویل چې ما د صدارت د مقام لپاره شیراحمد خان خوښ کړی وو او هغه ته مي د کابینې د جوړولو هدایت ورکړی وو.خو څرنګه چې مهم کسان ل هغه سره همکاری کولو ته حاضر نه دي نو ما فیصله وکړه چې تر څو پورې نوی پارلمان را غونډیږي نو د صدارت چارې به پخپله پ مخ بیایم. ځکه چې یوازې زه کولای سم چې د انقلابي اصلاحاتو کارونه پر مخ بوزم. زه یو انقلابي پاچا یم او غواړم چې د ټولنې د ژوند په هره مرحله کې یو انقلاب راولم. هر هغه مامور چې نه غواړي زما سره د زړه له کومې همکاري وکړي باید استعفی وکړي. د کابل د ګمرک ریس عبدالرحمن خان لودین پورته سو او خپله استعفی یې وړاندې کړه .ادمک ص ۱۳۷ په دې توګه په یوه او بل ډول او په یوه او بله مرحله کې د امان الله خان د کار او صادق ملګرې ورڅخه بیل سول او میدان هغو کسانو ته پاته سو چې هیواد یې بالاخره د اغتشاش لمنې ته وغورځاوه.

اعلیحضرت امان الله خان ته له خپل پلار څخه په خزانه کې ۱۵۰ میلیونه روپۍ پاته سوې. دا دونه پیسې وې چې که، د منظمو کلنیو عایداتو سره یو ځای، سمې لګول سوي وای نو تقریبا د هرڅه لپاره یې بس وې. خو امان الله خان هغه پیسې د ښایستو قصرونو په ابادولو، چې د هغوی د جوړولو لپاره مهندسان یې زیاتره له بهر څخه راغوښتل، په ډېرو زیاتو هیوادونو کې د سفارتخانو په پرانیستلو، چې ډېر زیات لګښتونه یې غوښتل او زیاترو سفارتخانو ته اصلا ضرورت هم نه وو، د الوتکو په رانیولو، بهر ته د محصلینو په لیږلو او ماشینونو په رانیولو او له بهر څخه د انجنیرانو او ډاکټرانو په استخدامولو ولګولې. افغانستان دې ټولو شیانو ته ضرورت درلود. امان الله خان دغه ضرورت احساس کړی وو، خو په داسې هیواد کې چې هر څه ته ضرورت لري نو د هر ضرورت د لیرې کولو لپاره جلا او پروخت ګام پورته کول په کار دی. محمد نادرخان وایی د کابل په لارو کوڅو کې هره ورځ په لس هاوو خارجي ډاکټران او انجنیران دې خوا ها خوا ګرځیدل او هیڅ کار یې نه درلود. د انجنیرانو لپاره نه پروګرام وو، نه پلانونه وه چې د دوی کار ورباندې وکړي او نه سامان وو چې دوی د کار کولو په وخت کې هغه استعمال کړي. په ښوونه او روزنه بې خرته پیسې لګیدلې او پیسې لکه اوبه داسې رواني وې. ضمنا پوځ او د پوځ لګښتونه به خطرناکه ډول کم سول او دولت نه سو کولای چې په ولایاتو کې د ناکرارۍ د مخنیوي لپاره کار ورڅخه واخلي .ادمک ص ۸۷

د ډیلي میل خبریال رانلډ وایلډ چې د اعلیحضرت امان الله خان د پاچهی په وروستیو شپو ورځو کې کابل ته تللی وو وایی چې یوه بهرنې سړي سلام رته وکړ ویل یې زه سیګنور پیرې یم. په انګلیسي ژبه خبرې کوم. زه دلته د بی سیم انجنیر یم او د افغانستان د حکومت لپاره کار کوم. خو دلته بی سیم نسته .وایلډ ص ۱۴۸

د امان الله خان ورور کبیر، چې د روغتیا وزیروو، د ملکي روغتون جرمني آمر ته وویل چې په روغتون کې باید د ایکس رې ماشین ودرول سي. هغه ورته وویل چې د ایکس رې ماشین دونه زیاته بیه نه لري و خو د هغه چلول ډېرې زیاتې پیسې غواړي او هغه پیسې په نورو ځایونو کې باید ولګولې سي. کبیر ورته وویل چې د ماشین د چلولو لګښت نسته. ځکه چې له هغه څخه کار نه اخیستل کیږي. خو موږ باید دا وویلای سو چې په کابل کې د ایکس رې ماشین لرو. د امان الله خان ایراني سکرټر هغه ماشین د کبیر تر پیشنهاد کړې قیمت لس چنده ارزانه واخیست. کبیر بې آبه سو او استعفی یې وکړه .سټیوارټ ص ۳۰۰

ketabton.com - The Digital Library

امان الله خان، د ده په اصطلاح یوه انقلابي پاچا په حیث، د خپلو اصلاحاتو پر داسي اړخونو د لیونتوب تر سرحده ټینګار وکړ چي د افغانستان د وروسته پاته ټولني لپاره یې منل تقریبا غیر ممکن وه. هغه د چادرۍ سره د تعصب ترسرحده مخالفت وکړ او یوه ورځ یې په کابل کي په عمومي باغ کي یوه ښځه په چادري کي ولیده. په زوره یې ورباندي چیغه کړه چي د دې چادرۍ سره دلته څه کوې. پخپله ورغی د ښځي څخه یې چادري لیري کړه او اور یې ورته واچاوه .ښځه مجبوره سوه چي لوڅ مخ خپل کورته ولاړه سي. بله ورځ یې یو بل سړی ولیدی چي بګړۍ یې تړلې وه او اوږدې ماتې یې پرې ایښي وې. هغه یې پخپله ونیوی. د سلماني دوکان ته یې بوت. ماتې یې ور وخریلې او رخصت یې کړ .سټیوارټ ص ۳۷۸

که دا کیسې، چي په ځینو غربي کتابونو کی یې ریپوټ ورکړه سوی دی، ومنو نو ویلای سو چي امان الله خان د خپلو اصلاحاتو په عملي کولو کي د انقلابیګرۍ څخه نه بلکه د لیونتوب څخه کار اخیستی دی.

د کندهار ملایانو یوازي له دې کبله د امان الله خان د کفر فتوا صادره کړه چي د خپلي ښځي مخ یې لوڅ کړی وو. دا فتوا به حتما د مامورینو او وروسته د ده د سلاکارانو تر غوږونو رسیدلې وي. که ده خواخوږي سلاکاران درلودلای نو حتما به یې د کندهار د خلکو دغه سخت عکس العمل ته متوجه کړی وای او ښایی چي په نتیجه کي هغه د خپل جدیت څخه لاس اخیستی او یو څه نرم سوی وای. خو له بده مرغه چي نامردو او غوړه مالو ملګرو امان الله خان ته په هیڅ برخه کي داسي خبره نه کوله چي ښایی ده به یې اوریدل نه غوښتل.

مأخذونه


۱ :محی الدین انیس :بحران ونجات طبع دوم ۱۳۷۸ مرکز نشراتي میوند

۲ :عبدالحی حبیبي : جنبش مشروطیت در افغانستان چاپ ۱۹۸۵

۳ :میرمحمد صدیق فرهنګ :افغانستان در پنج قرن اخیر جلد دوم چاپ ۱۹۸۸

۴ :عبدالحق مجددي : افغانستان از امیر کبیر تا رهبر کبیر( حقیقت التواریخ)چاپ اول ۱۹۹۹

۵ :خاطرات آقا بکف ترجمه دکتر حسین ابوترابیان :چاپ اول تهران ۱۹۷۸

۶ :محمد ابراهیم عطایی :د افغانستان پر معاصر تاریخ یوه لنډه کتنه دریم چاپ ۲۰۰۴ میوند خپرندویه ټولنه

۷ :میر غلام محمد غبار : افغانستان در مسیر تاریخ چاپ اول ۱۹۶۷ کابل

۸ :اعلیحضرت امان الله خان: حاکمیت قانون در افغانستان.

د هغو یاد داشتونو مجموعه ده چي اعلیحضرت امان الله خان کندهار ته، په کال ۱۹۲۵ کي، د خپل سفر په ترڅ کي او له سفر څخه وروسته ترتیب او چاپ کړي دي.

۹ :برهان الدین کشککي :نادر افغان: چاپ مطبعه سنګي ریاست عمومي مطابع کابل، ۱۳۱۰ هجري شمسي

۱۰ :مارشال شاه ولي خان فاتح کابل: یاداشت های من .چاپ پنجم

11 :Vartan Gregorian : The Emergence of Modern Afghanistan 1969 Stanford University Press.

9: Rhea Tally Stewart : Fire in Afghanistan1973

12: Ronald Wild: Amanullah Ex- King of Afghanistan Third Edition 1983

13: Ludwig W. Adamec: Afghanistan's Foreign Affairs to the Mid-Twentieth Century 1974 University of Arizona Press

12: Louis Dupree: Afghanistan 1980 Edition

14: W.K Fraser-Tytler: Afghanistan A study of Political Developments in Central and Southern Asia 1967

15:Leon B. Poullada: Reform and Rebellion in Afghanistan 1973 Cornell University

16 😛ercy Sykes: A History of Afghanistan 1940

17 :Mohammad Ali: Progressive Afghanistan 1933 Kabul

**Thank you for reading**

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*